2
9
15
52



یه زرمله کښی استقبال کونکی خپلو محترمو میلمنو ته دټوپکو په ډزو هر کلی وائی .

(دپښتونستان دمشرانو دمهمی او تاریخی جرگی)
یوه منظره

دسرطان (۱)
۱۳۳۱ ش

۳۱۵

ځاوریځه

زر انـ انـه ستا جـوهر معـلو موی

لـکـه کـا نی چه سره زر معلو مو ی

دو لنمن شه‌خو په خیال او په ډ پر فـکر

چه د و لت شیر ا و خر معـلو موی

* * *

د (۲۲) کال (۷) گنه

کابل

پښتو او دري مصوره

ادبي، اجتماعي، تاريخي مجله

د پښتو ټولنې د عمومي مدير

صديق الله رښتين

ترکتنې وروسته خپرېږي

دسرطان (۱)
۱۳۳۱ ش

دروژې (۳۰)
۱۳۷۱ ق

دجون (۲۳)
۱۹۵۲ ع

پته:
پښتو ټولنه
کابل
افغانستان

دتيليفون لمبر
۲۰۴۷

داشتراک قيمت:

دکابل په ښار کښې ۳۶ افغانۍ

په دننه هېواد کښې ۴۰ افغانۍ

په نورو ملکو کښې ۴ ډالره

ددې کتنې لیکنې

لیك	لیکونکی	مخ
دولت	ښاغلی محمدا کبرخان پامیر	۱
مستغنی	د « (پونده) ترجمه	۳
داهواز او تهران ترمنځ	ښاغلی رشتین	٦
زنگبار	دښاغلی سیفی ترجمه	۸
په یا دلره	ښاغلی شفیق	۹
غوتی او کوکی	« م ننگرهاری	«
کهنه وی	« پکتیانی	۱۰
دوصال آرزو	« عبد الغفور (ویاند)	«
دپاکستانی حکومت استعماری سیاست او ددنیا امنیت	« ننگ یوسفزی	۱۱
حسد او کینه	د « فدا محمد خان صارم ترجمه	۱٤
دقندهار دارغنداب بند	ښاغلی مولانا (کشککی)	۱٦
دشیکا کو دتسمیې وجه	د « روهیلی تو لونه	۱۹
داور نگزیب معاشقه	ښاغلی رشتین	۲۰
کلیله او دمنه « پنچ تنتر »	دښاغلی سیفی ترجمه	۲۳
دپښتونستان دمشرانو دمهمی او تاریخی چرگې دفیصلی متن		۲۹
دپښتو قصې	ښاغلی رشتین	۳۳

دښاغلی محمد اکبر پامیر په قلم

دولت

په اوله مقاله کښی می داجتماعی دستو رونو څخه معلومات در کړی اوویلی مې وو، چه هر کله دجامعې افراد دمخالفو حرکاتو په مقابل کښې یو عکس العمل ښکاره کړی او غواړی چه مخالفینو ته دې سزا او مجازات ور کړل شی هغه وخت دی چه حقوق منځ ته راځی .

او اشاره می کړی وه چه یوازی دافرادو آرزو اوخواهش کافی نه دی چه مخالفین مجازات شی ځکه چه حقوق یو مجرد مفهوم دی اوڅوچه مشخص شوی نه وی او افراد هغه مجسم ونه گوری معنی نه لری نو ځکه ضروری ده چه په جامعه کښې یوه بله اجتماعی موسسه رویکار شی اودافرادو دا آرزو اوتمایل تثبیت کړی .

داموسسه ځکه لازمه اوضروری ده چه ټول افرادنشی کولای چه په دې کار مصروف شی. اوخپلې نورې وظیفی شخصې وی که اجتماعی پرېږدی، اودبلې خوابشر ډېروخت دخپلو غرائضو او احساساتو غلام وی اونشی کولای چه په داسې حالاتو کښی دعقل اوفراست څخه کار واخلی دامعلومه خبره ده چه هرسړی دوه جنبی لری یوه دهغه طبیعی او فطری جنبه ده چه په منځ کښی د کینې، حرص، دښمنۍ، خلاف رفتارۍ، بغض اوحسد احساسات تولیدوی او بله ئې اجتماعی جنبه ده چه دور ورولۍ، بشر دوستۍ، محبت، شفقت اوددوستۍ احساسات منځ ته راباسی هرڅومره چه یو انسان مدنی شی یعنی په جامعه کښې ژوندو کړی په هغې پیمانه باندې دده طبعی اوفطری جنبه د اجتماعی جنبی تر تاثیر او نفوذ لاندې راځی اوهغه جامعه نیک مرغه ده چه دهغې دمناصفی نه ډېر افراد دداسی اجتماعی جنبی د مخی اصلاح شوی وی نوله دې امله دموئیداتو دتثبیت دپاره یو ضروري او اجتماعی موسسه پکار ده چه ددې اجتماعی موسسی دلزوم ښکاره ولو دپاره داسی یو مثال راوړو.

فرض کړو چه زید دیو غرض اویا کمې گټی دپاره دجامعې یو فرد مثلا محمود په قتل رسولی دی که چېرته یوه موسسه نه وی چه دا کار په غاړه واخلی اوزید ته مجازات تعین اوپه هغه باندې ئې تطبیق کړی نوداسی یوه منظره به ښکاره شی چه دزید انډیوالان او خېښان اودوستان به وائی چه زید هم ووژل شی یعنې قصاص غواړی دامناقشه ددې دوو ډلو په منځ کښی مجادله اوجنگ تولیدوی اوهغه وخت دجامعی دتشکیل منظور چه سعادت او آرامی ده منځ ته نه راځی ځکه چه هرسړی په خپل سر روان دی، او قوی ضعیف میده کوی دانتقام حس په جامعه کښی ډېرېږی اوهرج ومرج پیدا کېږی نوددې

امله دهچه په اجتماع کښې یوه موسسه چه محض دحقوقو دتثبیتو لودپاره دهضروری لیدل کیږی یعنی جامعه په دې فکر راځی چه باید یوه موسسه جوړه شی چه داخلاقو حرکاتو دپاره مجازات تعین کړی او هغه تطبیق کاندی داموسسه نن دولت نومیږی نو معلومه شوه چه ددولت موسسه یوه اجتماعی اوډیره ضروری موسسه ده او وظیفه ئې داده چه لمړی ځل خلاف حرکتونه تثبیت کړی او بیا نظر دافرادو په آرزودهغې دپاره موئیده جوړه کړی او هغه په افرادو باندې بی له امتیاز څخه تطبیق کاندی یعنی حقوق مشخص کړی دحقوقو مشخصول هم په دې ذریعه کیږی چه قانون منځ ته راشی او هر سړی و پوهیږی چه په جامعه کښې دا کار منع شوی دی او دا کار روادی ولی لازم دی چه ووایو دولت هم یو مجرد فکر دی دولت یعنی څوك څه شی؟ مثلا دافغانستان دولت غواړی چه اوه ملیونه پښتانه آزاد شی دافغانستان دولت یوسړی او یا څو کسه نه دی نو ددې له پاره چه دولت هم مشخص شی حکومت منځ ته راغلی دی چه ددولت رئیس په عین حال کښې دحکومت یو طبیعی رئیس دی. دولت بی له دې مو ئیداتو د تثبیتو لونه نورې وظیفی هم لری چه دادې :

۱ـ دداخلی امنیت تاسیسول

۲ـ دخارجی مناسباتو تنظیم

۳ـ داختلافاتو رفع کول دقضائی قوی په ذریعه .

دادرې وظیفی په هر جمیعت کښې ددولت اصلی او اساسی وظیفی ګڼل کیږی او نن ورځ هم دا درې وظیفې اساسی وظیفی دی ولی دا جتماعی او انعقادی ترقیاتو او انکشافاتو سره سم ئې توسعی موندلی او په نورو نومو یادیږی .

۱ـ دقانون ګوزاری وظیفه چه دملت دو کیلانو په ذریعه اجرا کیږی او مخصوصاً هدف ئې د داخلی امنیت تامینول دی او خلافو حرکاتو دپاره موئیدی تثبیتوی .

۲ـ داجرائی وظیفه چه دحکومت په ذریعه اجرا کیږی او دتولو اجتماعی وظیفو اجراءت ددوی په غاړه دی چه په هغی کښې خارجی مناسبات هم شامل دی .

او نور لکه معارف، فوایدعامه، اقتصاد، مالیه، زراعت صحیه .

۳ـ قضائی وظیفه چه دافرادو داختلافاتو دحل وفصل دپاره دقوانینو له مخه تطبیقات کوی او دجامعې استقرار او نظام دهغو قوانینو دمخه چه قانون ګوزارانو جوړ کړی دی ساتی او مطابق دهغو سزا او مجازات تعینوی .

مستغنی

عبدالعلیخان «مستغنی» دملارمضان خان زوی دملا قضاة امی دملا رسولداد کروسی په قوم هوتك اوپه (۱۲۹۳) هجری قمری کال دکابل په بالاحصار کښی زېږیدلی دی .

(مرحوم مستغنی)

دمرحوم مستغنی آبائی مینه دقندهار دکلات دحکومت د(سیوری) په کلی کښې ده منګر لحینو نیکه ګانوئې په کوم نسبت چه لاتر اسه معلوم نه دی له هغه لحایه رغلی او دکابل دمیدان د (بینی بادام) په کلی کښې هستو ګنه غوره کړې ده.

آخوند ملا رمضان د مرحوم مستغنی پلار په افغانستان کښې له هغوعلماؤ لحنی ؤ ، چه داستادی مقام یې درلود ملا رمضان دعلم د زدکړې د پاره دسوات ، بونیر، پېښور اونورو لحایوته مسافرشوی اوپردیسی یې ګاللی دی وروسته دمتداوله علومو له زده کړې څخه دسوات بابا (علیه الرحمه) تهورغی اوطریقه ئې وکړه اوبیرته خپل وطن ته راغی ، اوپه ډېر لنډه موده کښې یې د پوهې او علمی مقام زوږ دامیر شیرعلیخان غوږته ورورسیده نودی یې را وغوښت او د هغی مدرسې تدریسی او اداري چارې ئې وروسپارلې چه هغه امیرشیر علی خان په بالاحصار کښې تأسیس کړې وه . هر کله چه امیر شیرعلیخان مړ او امیر عبدالرحمن خان پاچاشو دهغه مخالفت په نسبت چه دهغو ترمنځ ؤ ، ملا رمضان له کابل څخه لوګرته لاړ او د محمد آغې په کلی کښې په تدریس اګیاشو ، څه موده وروسته د کابل په شرعی محکمه کښې مفتی شو .

پهدې وخت کښې چه امیرحبیب الله خان شهزاده ؤ ، دده لهدینداری ، علم ، اوپوهې خبرشو دی ئې دخپل ښوونکې په حیث وټاکه او تر وروستی سلګی پورې یې دخپل معظم استاداحترام اوقدر کاوه نوپهدې نسبت چه دده پوهه او علمیت هرچاته څرګندو ، اودده شهرت دی پرې نهښود چه په کلیو او ګوښه لحایو کښې هستوګنه اختیار کړی نو د افغانستان په مرکز (کابل) کښې یې هستوګنه غوره اوپه دې ښار کښې مرحوم مستغنی دنیاته راغی .

مرحوم مستغنی عموما لهخپل بزرګوار پلار څخه خپله زده کړه کړې اودوطن له نورو علماؤ څخه ئې ډېر لنډتعلیم کړی دی. لهمتداوله علومو څخه ئې مبادی ، منطق، یونانی فلسفه ، دکلام علم ، فقه شریف پهلازمه او مروجه اندازه پهعربی مدرسو کښې زده کړې وه خو دپښتو او پارسو په ادبیاتو کښې ئې لوی لاس درلود. پښتو ئې مورنی ژبهوه منګرعربی. اودپارسو ژبې یې کسبی وی دمرحوم مستغنی طبع زښته ډېره روانه وه چه په یوه هفته کښې به ئې ډېر فرمایشی اشعار جوړول دی دومره د خپلې طبعې په روانی ډاډه و ، چه دسراج الاخبار دادبی برخې عهده داری یې منلی وه .

مستغنی په هیواد کښې لومړنی شاعر ؤ ، چه دده اجتماعی او اخلاقی آثار دوطن په اخبارو نو او جریدو کښې خپاره او عام اوخاص لحنی ګټور شوی دی .

یوخه موده دی دسراج الاخبار مصحح اوبیا دحبیبي په مکتب کښې دادبیاتو معلم ؤ ،
مستغنی په نجوم ، رمل حساب ، او هندسه کښې هم ځانله مطالعه کولـه دده عزت النفس دومره
قوی ؤ ، چه دخپل وخت فضلاوته ئې تن نه اینوده . مستغنی دشجاعت او لوړ همت خاوند و ،
دی دسقاو د انقلاب په زمانه کښې قندهارته تللی و، نوهر کله چه انقلاب خلاص او اعلیحضرت شهید
(محمد نادرشاه) پاچاشو کابل ته راغی اوپه کابل کښې چه ادبی انجمن تاسیس شو نو دی ئې هم
په غړو کښې وتاکل شو .
مرحوم مستغنی د(٦٠) کالو په عمر په ١٣٥٢ فږی کال د١٣١٢ شمسی کال سره سم دحوت په
(٢١)دیکشنبې په ورځ په ملکی شفاخانه کښې له دې جهان څخه ستر ګې پټې کړې او مړشو .
مرحوم مستغنی په ربښتیاسره ډېر لوی اومقتدر شاعر ؤ ، ده پـه قصیده ، غزل ، مثنوی ، قطعه ،
رباعی ، مخمس ، مسدس، ترکیب ، ترجیع بند کښې اوی لاس درلود اوځکه چه طبع ئې ډېره روانه وه
نوځینو به دی دشعر ماشین باله مستغنی دوخت د قاضا سره سم په فارسی کښې ډېراشعار ویل اوډېرې
مشهورې قصیدې لری ـ په پښتو کښې هم ښه اشعار لری ، دده اشعار دوطن په اخبارونو او جریدو کښې
ډېر نشرشوی دی دادی ددې دپاره چه د مرحوم مستغنی له روانې طبعې سره موآشنا کړو دده یوه برخه
آثار خپلو ښاغلو لوستونکوته په لاندې ډول وړاندې کوو .

هرملت چه شی ګریان دخپلی ژبی — مطالب ئې شی آسان دخپلی ژبی
ښه دې زده کړه هر مطلب پخپله ژبه — پښتـه شه تـرجمان دخپلی ژبی
ګفتګوی په پردی ژبه کړی ترکومه — مګر نلری امکان دخپلی ژبی
ته افغان په پردی ژبه دې تحریر دی — ولی نکوی افغان دخپلی ژبی
په پردی ژبه تحریر وتقریر مکړه — زده کړه زده نوشت وخوان دخپلی ژبی
هر ملت دخپلی ژبی صحت غواړی — ولی نکوی درمان دخپلی ژبی
ور کاوه بهشی پیغور پـه هره ژبه — خوك چه نوی زبانـدان دخپلی ژبی
نپوهیږی پـه پښتو پښتون یادیږی — ولی نـه ئی نکـته دان دخپلی ژبی
هره ژبه چه یادیږی پکاریږی — پکار نه ئی دی نسیان دخپلی ژبی
چه پوښتنه ورنـه وشی نپوهیږی — بیا بـه وکوی ارمان دخپلی ژبی
که خوك زده کاندی سل ژبی دا کمال دی — دا کمال نـدی نقصان دخپلی ژبی
ښه ده ښه ده چه پـه سـل ژبـې دانائی — ولی مکیږه نادان دخپلی ژبی

په هیڅ ژبه دا بیان کولی نشم — که هر خو کوم بیان دخپلی ژبی
خدای دې هیره خپله ژبه لـه چانکه — ربښتیا وایم جار قربان لـه دخپلی ژبی
بـه بازار دیـ ردی ژبی سودا مکړه — سو دانبه ده پـه دکـان دخپلی ژبی
په ګلزار دیر دی ژبی ګلـ چین مشه — چه رنګین دی ګلستان دخپلی ژبی
خپلـه ژبـه سود وزیان دهرسـړی ده — هر خوك مومی سود وزیان دخپلی ژبی
بی تعلیمه بی تکلیفه به دې زده شی — هیر بـه نکړمه احسان دخپلی ژبی
استغنا لـه خپلی ژبی کله کیږی — دی محتا چه هر انسان دخپلی ژبی

خپله ژبه ده په هر چا باندی گرانه
صفت نکړم په قرآن دخپلی ژبی

له دی ژبی دې اولاد بی نصیب مشه
مرگ خوښه دی نه حرمان دخپلی ژبی

هیره نکړې دا شرینه پښتو ژبه
بیان وکړه په ښه شان دخپلی ژبی

هر سړی په خپله ژبه ښه ښکاریږی
ما ډیر کړی امتحان دخپلی ژبی

په پردی وطن که چېری مسافر شی
درپکار به شی یاران دخپلی ژبی

دچا درد په بیگانه نه دواکیږی
ښه دی ښه دی آشنایان دخپلی ژبی

که دې هیره په غفلت په بیغوری کړه
درنه وانه خلم تاوان دخپلی ژبی

تر دې پورته ناکامی هیچری نشته
چه سړی نوی کامران دخپلی ژبی

خپله ژبه خپل وطن خپل ملت ښه دی
څوك به څه وائی برهان دخپلی ژبی

خپله ژبه دې خپله ده زده کیږی
سبق نلری گردان دخپلی ژبی

زده کړه زده کړه پښیمانی پداکښې نشته
چا لیدلی دی پشیمان دخپلی ژبی

غوږ پرې نیسه اوریدلی به دې نه وی
دارنگین شیرین داستان دخپلی ژبی

په پښتو ژبه به هسی بیان وکړم
چه عالم به کړم حیران دخپلی ژبی

ولی نه وایم اشعار په پښتو ژبه
څه قانع کړم شاعران دخپلی ژبی

په پردی ژبه ترڅو غزلخوانی کړم
ولی نه یم غزلخوان دخپلی ژبی

پردی کورمی که آبادڅه بیغوری ده
چه خپل کورمی دی ویران دخپلی ژبی

په پردی کاروان که څوناله فریاد کړم
بی جرسه دی کاروان دخپلی ژبی

زه به څرنگه وځان ته پښتون وایم
نه یم نه یم قدردان دخپلی ژبی

کوم کتاب می په پښتو ژبه جوړ کړی
کوم می نوم کوم می نشان دخپلی ژبی

چا بللی طرفدار ددی لغت یم
چالیدلی یم خواهان دخپلی ژبی

څوك به وائی چه په داصفت موصوف یم
څوك می ستائی په عنوان دخپلی ژبی

که می کړی په پښتو ژبه بیان وای
اوس به زه ؤله سحبان دخپلی ژبی

اوس توفیق دومره له خپله خدایه غواړم
چه ویران کور کړم ودان دخپلی ژبی

که سعدی غواړی په پند ونصیحت کی
راشه وگوره رحمن دخپلی ژبی

دحمید اود رحمن پشانی غواړم
چه کامل کړمه دیوان دخپلی ژبی

په پاړسی ژبه دی وکړل طوفانونه
اوس دې وینمه طوفان دخپلی ژبی

دپاړسی ژبی دوران دې که تر سره
اوس راغلی دی دوران دخپلی ژبی

په پاړسی دی نمایانی فتحی وکړی
اوس راگډشه په میدان دخپلی ژبی

که هر څو لری اشعار په پاړسی ژبه
مستغنی دی ثناخوان دخپلی ژبی

دهند دسفر یوه خاطره .

د ۱۹۵۱ دمارچ ۸

د اهواز او تهران تر منځ

دمارچ په ۸ یعنی په هماغه ورځ چه له لمدی نه وچی ته راکوز شوم په ۱۲ بجی په کرائی موټر کښی اهواز ته چه دایران یو جنوبی ښاردی روان شوم موټر ښه ؤ مگر لار بالکل کچه او دمټینی خاوری یو دښت ؤ، دیو سړك په ځای پکښې دموټر دتگ راتگ په وجه دوه لارې جوړی شوی وې : په همدغسی یوه لار موټر گړندی زغلیده په دوه ساعته کښې اهواز ته ورسیدد (پارك نو) په هوټل کښې می دشپی تیرولو ځای وموند بیا په بازار کښې یو ساعت وگرزیدم لاکن یو نابلده وم او بل یوازی - نو ځکه دډیرو گرځیدو شوق هم راسره نه ؤ بیا هم څه چه می په اهواز کښی ولیدل له تاسی نه ئې نه پټوم .

اهواز وړوکی مگر ډولی ښاردی بازارونه او سړکونه ئې پاخه دی ، مازیگر مهال پکښې دخلکو گڼه گوڼه زیاته وی دښار به شمال کښې د (ملی باغ) په نامه یو باغ دخلکو دکښیناستو او پاڅیدو او مشروباتو ښه ځای دی ، دملی باغ به سړك د یوه څلور لاری په منځ کښې دمحمد رضا پهلوی یوه نوی مجسمه چه په اس باندې سوردی له لیری څخه سترگی ځانته راکاږی . دا هواز خلك اکثره عرب دی او عربی ژبه وائی دمازیگر دتفریح په وخت کښی اکثر خلك په دریشی او ښه لباس کښی لیدل کیږی - په بازار کښې ځای په ځای (آرایش گاهونه) یعنی دسراوږیری دسمولو ځایونه ډیر زیات دی او داسی ښکاری چه دې کارته ډیره توجه کیږی .

په خرم شهر کښې می دایران دصدراعظم (رزم آرا) دقتل خبر نری غوندی اوریدلې ؤ مگر په اهواز کښی داخبار والاؤ له چیغو وهلو او تیزو گرځیدو څخه دغه خبر پوره رښتیا شو درزم آرا قتل داخبار والاؤ دپاره یو ډیر دلچسپ خبر ؤ - رزم آرا دمارچ په (۷) دفدایان اسلام دډلی یوه تن دتهران په جماعت کښی یو څو گولۍ ویشتلی ؤ .

که دیو اخبار والا پلار مړ شی او څوك ئی ورله دمرگ خبر راوړی گومان کوم چه دده سره به دهغه دمرگ دومره سودا نه وی بلکه زیات فکر به ئی په دې کښې وی چه دغه خبر زرنشر کړی چه اخبار ډیر خرڅ شی او لوستونکو ته یو دلچسپ خبر پیدا شی .

دتهران اور گاډی :

دمارچ په ۸ مازیگر مې ددوهمې درجې ټکټ اخیستی ؤ ، نو دمارچ په ۹ سهر ۷ بجی دگاډی ټیسن ته ورسیدم .

ما خیال کاوه چه دلته به هم دهند غوندی ډیر رس وی لاکن دخدای فضل ؤ هر څوك خپل خپل ځای ته په خاطر جمعی ورتلل ، له یو بل نه وړاندی کیدل او جامی شلول نه وو . دگاډی کاریگرو نابلده کسانو ته ځای او چوکۍ پوره لارښونه کوله په یوه کمره کښی شپږ چوکۍ پرتې وی او زما چوکۍ به په کښې ۳ لمبروه زه خوشحاله وم چه ددې ځای داور گاډی دوهمه درجه به دهندوستان غوندی دهر سړی دپاره دشپی دویده

کېدلو ځانله سیټونه لری لاکن په نتیجه کښې معلومه شوه چه دلته دشپې دویده کېدلو ځانله سیټ نه ؤ، خالی یوه یوه پسته چوکۍ دشپې ورځې دپاره دهرسړی په برخه رسیدلی وه داخولا پرېږده ددې ځای اودهند دریل بل لوی فرق داؤ چه دلته دسیکنډ درجی دپاره یوه ټټۍ وه اوپه هند کښې هره کمره بیله بیله بیت الخلا لری . په دې ریل کښې رستورنټ هم ؤ مگر دصفائۍ اوانتظام مزه ئې نه وه دغرمی په یوه وخت خوراك ئې له مانه (۶۰) ریاله یعنی ۴۰ افغانۍ واخیستې نورو سورلو هم دریو له هوټل او کاریگرو له بی پروایۍ اوبی انصافۍ نه پوره سرټکاوه . کوم وخت چه سهر دنمر په رڼا کښې ریل له اهوازنه مخ په تهران وخوځید نودشنیلو اومرغه په یوشین چمن ورسم شوزمونږ نه مخ کښې دپسرلی گلان شینکی دمیږو رمې . دمیږو پادې ، داسونو گلی دښت اوبیدیا ته وتلی وې ددې دښت په یو وړوکی ټیسن باندې په غټ خط (آهودشت) لیکل شوی ؤ ، گویا ددې دښت نوم هم دهوسیو دښت ؤ ددغسی دښت سره چه د پسرلی په موسم پکښې دحیواناتو اوانسانانو زړونه یوشان خوشحالیدی شی همدغسی نوم ښایېږی ، په دغسی دښتونو کښې چه هوسۍ دبهار په گلو رغړی رارغړی نوعاشق ته دخپلی مینی د پالنگ رغښتل ورپه یادشی .

محبوبا په کټ کښې واوښته له خوابه   که هوسۍ وه دبهار په گلو رغښته

پسرلی دهوسیو دښت ټول په تنکیو شنیلو اوسپینو گلانو فرش کړی ؤ . دکوچیانو اومالدارانو کیږدۍ دخوشبویو گلانو دپاسه ولاړې وې دطبیعت ناوې دخپل ښایسته مخ نه پلو لیری کړی ، او دناز په خندا ، غوړیدلی تندی ، غوړو څڼوئی خزان وهلی رنځوران له رنځه خلاصول په دغسی موسم او دغسی وخت کښې ددغسی دښت سفر کول دقدرت یولوی مرحمت دی مونږ تر ۱۲ بجو پوری د (خوزستان) په علاقه کښې روان وو ، چه د نورستان ترغرونو پوری رسیدلی ده ددې علاقی اکثر خلك عرب دی چه په دې وجه دایران اودعراق په منځ کښې د دایمی اختلاف سبب دی او عراق ئی دځان سره دیو ځای کولو دعوه گیر دی .

مازیگر ته نژدی گاډی دلورستان دغرونو په کنږیچونو اوتاورا تاوناونو کښې و رننووت درضاشاه دلویو کارونو څخه یو کار ذتهران اواهواز داور گاډی دسړك جوړول دی ، داوسپنی لار ټوله دغرونو په تنگو تنگو ناوونو کښې دیو وړوکی رود په غاړه غاړه تللی ده چه تقریباً (۱۳۶) واړه غټ سورنگونه لری اوتقریباً تردوه کیلو متره پوری لوی تونل هم په کښې شته دی . وائی چه داوسپنی لار زیاتره جرمنیانو جوړه کړی ده .

شپه مو په هغه ترتیب چه مخکښې می وویل دچوکۍ ددواړو واړخیزو دړو ترمنځ په را غونډو پښو تیره کړه سهر چه څو لمر را اوچتیده په ۷ ونیم بجې گاډې دتهران په ټیسن ودرید اوزه دلاله زار مهمان خانی ته چه د میلمه په انتظار ئی یوه کوټه ځانله ساتلی وه لاړم .

دښاغلی « سیفی » ترجمه :

زنگبار

په دریمه هجری پیړی- یعنی په هغه وخت کښې چه مشهور عربی مورخ مسعودی زنگبار ته تللی و نو په دغه وخت کښې دغه اسلامی جزیره دبحری تجارت لوی اومهم ځای حاضر او دبحری جهازونو دمشق اوتمرین لوی مرکز ؤ اوپه دغه جزیره کښې دشرق مالونو ډیر مصرف درلود .

دا جزیره دشرقی افریقا په ساحل پرته ده او « ٦٤٠ » مربع میله مساحه او دری لکه نفوس لری ، او په دې جزیره او (بامیا) نومی جزیره سلطان السید خلیفه بن خاب نومی یومسلمان پاچا حکومت کوی چه پهدې ورځو کښې ئې دخپل عمر داویا کلنی تلین په مناسبت یو مجلس جوړ کړی ؤ اود (٤٠) کالو څخه پهدغو جزیروحکومت کوی .

لهډیروپیړیو څخه دغه ځای داسلامی نړی- دتجارت یومهم مرکزؤ کهڅه هم ددغه ځای تجارتی اهمیت دشلمې پیړی- په څوکلونو کښې څه قدرته کمزوری اوبی اهمیته شوی ؤ لیکن هر کله چه په دې ځای کښې خام مواد ډیرزیات پیدا کیږی ولهدې کبله ئې پیرته خپل اهمیت په ځای کړ اوهر کله چه لهدې ځای نه نورو ممالکوته عاج اونورحبوبات اوغلی دانې ډیرصادریږی نوددې ځای تجارتی اهمیت ډیرشوی دی .

ددې جزیرې دمهمو محصولاتو څخه تور مرچ اولـه درجه محصول ګڼلی کیږی او دو همه درجه محصول ئې تیل اونور شیان دی . پهدې جزیره کښې د تورو مرچو ونې په ډیر مقدار کرلې کیږی لکه چه په دې ورځو کښې په دغه جزیره کښې دهغو ځمکو تخمین چه دتورو مرچو ونې پکښې کرلې شوې دی پنځوس زره فدانه تخمین شوی دی اودونو شمیر ئې څلور ملیونه شوی دی لهدې جزیرې څخه په یوکال کښې دپنځو لکو پونډو په قیمت برابر تیل نورو ممالکو ته صادریږی .

برسیره پردې پهدې جزیره کښې دناریا اوونې هم څلور ملیونـه تخمین شوی دی چه ددغو ونو دمیوو داکثرو برخوڅخه تیل ایستل کیږی او ددې جزیرې په وطنی فابریکو کښې ورڅخه صابونونه جوړیږی او ددې ونـې د محصولاتـو او نورو اجـزاو څخه نور ډول ډول دکار شیان اوپړی اونور ضرور یات سازیږی چه د دې جزیرې دخلکو په روزانه ژوند کښې ډیر اهمیت لری .

پهدې جزیره کښې یوراز نوی قسم تماکو هم ډیر زیات پیدا کیږی او ښه تماکو ګڼل کیږی او دخاورو لوښې پکښې هم په ډیر مخصوص او ممتاز قسم جوړیږی ، د دې ځای د رنګ آمیزی- فن اودجواهروتجارت ډیرزیات شهرت لری .

ددې جزیرې په خلکو کښې دخپل خواخوږی پاچا دتوجهاتو په اثر دعمل اودوطن دخدمت روح په ډیر ښه شان ژوندی شوی او دغه روح ددې جزیرې په خلکو کښې ډیر زیات عمومیت پیدا کړی دی او داکار ددې جزیرې دخلکو د ترقی ښکاره دلیل دی چه ابتدائی تعلیم پکښې وړیادی او لـه څو مودې راپه دې خوا په دغه جزیره کښې ثانوی مکتبونه او دنرو اوښځو دتعلیم دعمومیت دپاره پکښې ډیر دارالمعلمینونه هم تاسیس شوی دی اوپو دارالعلوم هم پکښې جوړیدونکی دی پهدې ورځو کښې ددې جزیرې دپیغلو څخه دوه پیغلې دمصر لهطبعی دارالفنون څخه هم فارغ التحصیلې شوی دی اوپهدې ورځو کښې په حکومتی شفاخانو کښې د داکتری- کار کوی .

په تیر کال کښې ددې ځای عام محصولات او فصلونه ډیرښه وو خو په دې کال کښې دمرچو ونوته مضرو حشراتو څه قدرته ضرر رسولی ؤ لیکن حکومت ورسره په مجادلـه اخته ؤ ،

ویل کیږی چه په شرقی افریقه کښې په دې ورځو کښې دکبانو دښکار دپاره نـوی ترتیبات نیولی شوی دی او د دغو ترتیباتو مرکز به ددې جزیرې په مرکز زنگبار کښې وی ، چه که چیری دغه فعالیت ادامه وکړی نو په ډیره لنډه موده کښې به ددغې جزیرې خلك د اسلامی نړی- د خلکو په هوسا او آبادو خلکو کښې دمخصوص او ممتاز مقام خاوندان شی .



ښاغلی شفیق

په یاد لره

زلفې چه سنبال کړې نو آشنا په یاد لره
جوړ دې چه سینګار کړې نوشیدا په یاد لره

وخت دیسرلی چه شو موسم دنوخېزۍ چه ؤ
باغ کې دسرو ګلو می او ما په یاد لره

کله دغم شپه دې که په ما سحر کوله تا
ماته مخا مخ یوه خندا په یاد لره

یاردې چه دغم ؤ شریك بانې دې خپګان کې ؤ
راغله چه خو ښې په تانو دا په یاد لره

ښه چه سنبال کړې درله راغله دښکلا میرمن
زیاته ناصح وائی چه تقوی په یاد لره

باد دسعادته چه د شرق په ور شو الوتې
زړه دایشیا کې پښتونخوا په یاد لره

ښاغلی م ننګرهاری

لطیف ادب

غوټۍ او کوکۍ .... !

آرزو په خوب کې رنګینۍ وینی
رنګین خلقت د، فطرت غمی دی

وږمې رقصانې کوکۍ خندانې
ساقی ! له تانه خواهش دمی دی

❀ ❀ ❀

بې اختیاره خندا د ګلو
جمال حیران کړو په ګل ګشتی کې

وږمو خاموشه انګازه یو وړه
زاهد ئې ګډ کړو په می مستۍ کې

❀ ❀ ❀

صوفی ! وربند کړه که تقوی ګورې ؟
مینو شه ؤ ځه که صبا ګورې ؟

ګلان هوس کړی د جام ګردش ته
ساقی ! دیخواشه که مینا ګورې ؟

له وچه ډاکه لطافت اوری
وږمې له شوقه بې واکه ښوری

د خودۍ رنګ کې بوی بېخودی ده
محتسب مست دی چه خو دی ګوری

❀ ❀ ❀

دبورا سوزته دکوکۍ سازته
آئینه څه کړې جمال حیران دی

بلبل دګل نه څه تقاضا کړی
بېلتون خو پرېږده وصال حیران دی

فطرت بدلېږی ارمان وېښېږی
شباب سرمست دی رندانه ښوری

پیاله ئې کړله حیرت نسکوره..
نرګس له شرمه ځکه کوز ګوری

ساقی را پاخه ! لاس په مینا کړه
چمن رنګین دی وږ مې وریږې
نغمې دې نغمتی په میخانو کې
جذبات ساړه دی غر مې تریږی

❀ ❀ ❀ ❀

غوټی په زړه کې ساتلی راز ؤ
نسیم افشا کړ تري په خنداکې
رنګین رومان ئې بلبل ته تیر کړو
په نغرو لا دو دبور اخواکې

❀ ❀ ❀ ❀

په رنګ غوټه کړل خلقت خپلو نه
فطرت بدل کړل زا ده حالو نه
رنګونه تاوشول په کیفیت کې
هر چیرې جوړ کړل بوډی تالونه

❀ ❀ ❀ ❀

لاله په سرده پیاله نیولې
وینی لیګر شو په تمناکې . . . .
صراحي رنګ کړه ساقی راپاخه!
محتسب ډوب دی دلحان سو دا کې

❀ ❀ ❀ ❀

شباب رنګینه آرزو راوړې
وزمی سر کړی خاموشه نی دی
غوټی له شرمه کوکی له سهمه
دا زمزمه کړی : دمحا کمی دی

❀ ❀ ❀ ❀

پاغلی پکتیانی

که نه وی ! !

تل به دی خیال وی هم آغوش زړه بې قرار که نه وی
د ګل خندامې ګوره زړه په پنه کښی خار که نه وی!
خیر که ویده وی دعدم په خوب دشپی په حکم
سر به مې نه ؤ پورته کړی سپین سهار که نه وی !
لکه صدف دزړه له لاسه دې توتې توتې وی
چه ملغلرو خریدار وی سوړ بازار که نه وی !
مابه دعشق په وزرو طی ؤ کوه قاب مز اونه
اخ اوافسوس نه وی قفس په زړه بیمار که نه وی !
لکه دیوه دې ژړیدلی له حسرته خو لی !!
خو مسخره او استهزا ددې روزګار که نه وی !
په پته خوله دې وی پتنګ غوندی مستی له عشقه
مه وی بلبل خونین جګر ګل انتظار که نه وی !
دیار له غاړی حمائل به ؤو لا سونه زما
هجر بیلتون به چیری وی خوبد اغیار که نه وی !
دزړه په سرمی لکه شمع اور مدام لګیدی
کاشکی رڼا دانجمن وی د مزار که نه وی !
زه به له ذوقه ځنګیدلم دچنګن په ځانګو
لکه منګورې توري زلفی خوتار تار که نه وی!
دپښتونخوا غرونه به ډک له انعکاسه ونا
اخر آسوده وی «پکتیانی» عمر په دار که نه وی !

پاغلی عبدالغفور ویاند

دوصال آرزومند

آرزو مند دې دوصال نه یم نو څه یم
خریدار دې دجمال نه یم نو څه یم
شپه او ورځې نا قرار درپسې ګرزم
د فراق نه دې بد حال نه یم نو څه یم
تر نظر مې چه شی ستا نر ګسی سترګې
په ژړا تر یوه کال نه یم نوڅه یم
ما ته ستا وصل عزیز دی له هرڅه نه
ستا دخوږ وصال لپوال نه یم نوڅه یم
تل دې لرې دفراق په لمبو سوځم
اخته شوی په جنجال نه یم نوڅه یم

(پاتی په ۱۱ هم مخ کښی)

ښاغلی ننګ یوسفزی :

د پاکستانی حکومت استعماری

سیاست او د دنیا امنیت

که چېرې له سیاسی بصیرت نه کار واخیستی شی او لږ په دقت سره د دنیا په موجوده روانو اوضاعو باندی نظر واچولی شی . نو یقیناً سړی په دې حقیقت رسېږی چه د نننۍ دنیا په امنیت کښې د حارص قوتونو د استعماری سیاست په طوفانی امواجو کښې قطعاً خپل توازن بایللی او د زمانی د پرمخ تګ سره دا امکان لاقوی کېږی چه نن وی که سبا د نننۍ دنیا د امنیت کشتۍ په د حارصو قوتونو د امپریلستی او استعماری ناوړه سیاست په طوفانی امواجو کښې به له خپل موجودیت نه لاس ومینځی او انسانی دنیا چه د شپږو کالو د تېر مسلسل جنګ د تباه کارو او تخریب ژوندی مثالونه ئی لا په مخ کښې وجود لری او کوم افسانوی رنګ ئی لا نه دی اختیار کړی بیا به د استعماری قوتونو استعماری سیاست له برکته د دریم جنګ سرو لمبو ته ولوېږی .

هر څوك پوهېږی که چېری په دنیا کښې د دریم جنګ لمبی پورته شوې نو په دې جنګ کښې به د بشریت د تباهۍ اندازه تر کومی پورې وی . ځکه چه د ماضي تحولاتو او د تېر یوه قرن په لږه موده کښې د دوو عظیمو او تباه کوونکو جنګونو سره د انسانې دنیا قهراً مخامخ کېدلو په انسانانو کښې دومره استعداد پیدا کړیدی چه اوس د دنیا وګړی مخکښې له دې نه چه د دریم جنګ لمبی د دنیا دامن په لمن پوری شی او په نتیجه کښې خپلی تباهۍ او تخریب عملاً دنیا ته څرګندو ښیی پوهېږی چه د غه تباهی او بربادی به تر کومه حده او اندازی پورې خطر ناکه وی .

هو ! که چېری د دنیا د تاریخ پاڼی واړوونو دا حقیقت به راته په ښه ډول څرګند شی چه هر کله په دنیا کښې کومه عظیمه نښته او جنګ شوی وی نو پرته له دې نه چه انسانان ئی د ډېری تباهۍ بربادۍ او فلاکتونو سره مخامخ کړیدی له ځانه سره ئی یو بل نوی شی هم میدان ته راوړی دی او هغه دا چه مختلفو طاقتونو د جنګ په دوران کښې د ځان یوڅه ناڅه کمی محسوس کړی او هر کله چه د جنګ میدان سوړ شوی

(د ۱۰ هم مخ پاته)

چه دې مخ راته ښکاره شی پرې لمبه شم — په مژګانو دې حلال نه یم نو څه یم
دا چه سر په بیابان او صحرا ګرزم — ستا له غمه مجنون حال نه یم نو څه یم
لامې نو ره هم سو دا د پایمالۍ کړې — دغه اوس هم لا پایمال نه یم نو څه یم
تل مدام چه دې ولاړ یمه په در کښې — ستا وحسن ته په سوال نه یم نو څه یم
چه مدام مې وی رنګ زېړ په غم کی ډوب یم — د بېلتون نه دې ملال نه یم نو څه یم
شپه او ورځې په فریاد فریاد ژړېږم — جدائی نه دې پرکال نه یم نو څه یم
چه له ځایه حرکت کولی نه شم — ستا له در ده بی مجال نه یم نو څه یم
شپه او ورځې مې وی سترګی ستا ولورته — ستا غوښتونکی هر مهال نه یم نو څه یم
(ویاند) وایمه همیش دغم سندرې — د هجران په قیل وقال نه یم نو څه یم

نوددغه کمی دپوره کولو دپاره ئـــی په دماغی قوی‌زور اچولی اودزیار زحمت ایستلو په‌نتیجه کښې ئی دسائنس په‌میدان کښې یوبل قدم‌اخیستی اوهم‌دغه مفکوره وه‌چه انسانان په‌تدریج سره‌مخ په ترقی لاړ اونن تردې حده پورې رسیدلی‌دی چه‌دسائنس په دنیا کښې داتم او هایدروجن غونډې ایجادات وشول اودعمل میدان ته‌هم راوواته . په‌دی ځای کښې یوه‌جمله معترضه هم واردیږی اوهغه‌دا چه آیا حقیقتاً سائنس انسانی دنیاته‌دځانه سره‌دامن سلامتی‌اوآرام ژوند پیغام راوړ اوسره ددې‌چه‌داد مدنیت اختراع ده پیاهم دبشری نړۍ دپاره دتکلیف رسولو او مشکلاتو پیدا کولو باعث وګرځید .

په‌دې کښې‌شك نشته چه‌سائنس خـــومره چه دوګړو دراحت اوآرام سبب ګرځیدلی دی . هغومره دتباهۍ اوتخریب دپاره تربنه کار اخیستی شوی‌دی ،

که‌خه‌هم سائنس په‌خپله اساساً دتخریب اوانسانی تباهۍ دپـــاره نه‌دی بلکه دانسانیت د آرام او راحت دپاره عمل دعمل‌میدان ته راغلی‌دی ،

مگر دا‌په‌خپله دبعضی انسانی استعماری قوتونو تنگ نظری اودحرص ناوړه جذبه ده‌چه نن حارص اوغاصب قوتونه دغه‌مقدس علم په‌ځای ددې چه‌داصلی مرام اومقصد دپاره چه‌هغه دانسانی نړۍ آرامی‌او خوښی‌ده استعمال کړی بالعکس ئې دخپلو شومو ناوړو اوبدو اغراضو دپاره استعمالوی .

هو ! ومی‌ښیی چه‌زه‌له‌خپلی اصلی‌موضوع‌نه‌اړې ووتم‌خوزما له‌دې دومره خبرونه مراد او زمااصلی غایه‌داده چه‌آیا سره‌ددې چه‌مونږ په‌دې‌پوهیږو چه‌د موجوده استعماری قوتونو دغه‌وران ناوړه سیاست پرېښودلی شی‌چه‌هم دغسی عملی شی ، نوحتماً به‌یه‌نړۍ کښې دبدمنۍ لمبی پورته شی چه‌په نورو الفاظو کښې دهغی نوم ددنیا دریم جنگ دی داور لمبی پورته شی اودغه اوربه هرومرو انسانی ځنگل ایزی کړی اودتېرو جنگونو دترخوتجربو له کبله چه مونږهر کله ددریم جنگ اور او ددغه اور تخریبی عملیات دتصور په‌ډډه رسم کوو ، نوفوراً موله ویری غونی زیږ شی .

نن ددنیا دامن ساتلو په‌غرض اودهرچادحق اودعوې اوربدلو دپاره د دنیایوه شریکه جرگه په کار لگیاده نوځکه مونږ حق‌لرو چه‌خپل اواز دوی‌ته ورسوو اودخپل رایو اظهار وکړو او دانسانیت انسانی اخوت ، انصاف ، عدالت ، اوانسانی مساوات‌دمقدسو مفاهمو‌په‌اساس تربنه وغواړو چه‌زمونږ آوازته‌هم لږ غوږونیسی اوځنگه چه‌لازمه ده‌دفامونو دحقوقو دتحفظ اودنیا دامنیت‌ساتلو په‌لار کښې پاخه قدمونه واخلی .

لکه ځنگه چه‌هرپلو ستر گی واړوو او ووینو چه‌نن‌په‌شرق اوخصوصاً په‌منځنی شرق کښې دپرزیات اخوډب روان دی وداخوډب کمزورو محکومو اواسونو اواستعمار ترمنځ واقع دی اودالحکه چه‌شرق‌او خصوصاً منځنی شرق چه‌له‌دپروخت راهیسی د استعمار په لومو کښې ښکیل شوی او دسامراجی استعماری قوتونودبیگانه‌اومستبدانه نظام نه‌پوزی ته‌راغلی اواوس نوردې ته حاضر نه‌دی چه‌دبیگانه اوغاصبینو دجغ لاندې لاړشی نوله‌دی کبله دشرق اولسونه مجبوراً پورتـــه شوی اوپادې فیصله ولاړدې چه‌تر اخری سلگی پورې داستعمار اواستثمار مقابله وکړی .

ځنگه چه‌گران اومحترم لوستونکی دننی‌دنیا اوخصوصاً دمنځنی شرق دموجوده اوضاعو نه پوره خبردی نومونږ به‌دلته‌البته تفصیل پرېږدو دا به ضرور عرض کړو چه‌داستعمار په‌خلاف چه‌د منځنی شرق اولسونو کوم محاذقایم کړی‌په‌دې محاذ کښې پښتنی اولس خومره‌اوترخه حده‌برخه اخستی اواخلی ئې اوپښتون اولس په‌دی محاذ کښې خومره حقیقی اهمیت‌اوقیمت لری اوددنیا امنیت په‌پښتنو پورې خومره اړه لری .

داحقیقت له‌هیچانه‌پټ پنانه‌دی چه‌نن په‌شرق کښې‌داستعمار لوی ایجنټ دپاکستان دومینیون نیم‌آزاد حکومت دی‌اوداحکومت چه‌مراد تر ښه دکراچی حکمرانه طبقه‌ده په‌خپل ټول‌قوت‌سره کوښښ کوی چه‌په شرق کښې داستعمار وروستی شوی جړی بېرته دشرقی افوامودوینو په اوبو شنی اود استعمار فرسوده نظام په‌مخکښې شان‌اوشوکت سره برسراقتدار راولی اوپه‌ټول شرق باندی داستعماری طاقتونو چه ددوی اصلی نایکان دی داقتدار قایم ساتلو دپاره دپاکستانی سرزمین‌نه دیوی مضبوطی ادې کارواخلی. اودا حقیقت هم‌له‌چانه پټ نه‌دی چه دایلان اوسکیم چه‌باید پاکستانی سرزمین په‌شرق کښې داستعماراوپه اده‌وی . کوم‌ننګی‌نه‌دی بلکه له‌دېر وخت رایدې خواددی منظور دپاره په مختلفو طریقو کارشوی‌دی تردې حده پورې چه‌دپښتنو په‌زور اوزبردستی اوخلاف‌عدالت دول په‌کراچی پورې تړل هم‌داستعماري فوتونو ددې منظور اومقصد دپاره یوناوړه اوناقابل معافی مجرمانه اقدام ؤ .

مګر پښتون قام ښکګ چه‌فطرتاً آزاددی اوهیڅکله‌ئی نه‌ده قبوله کړی‌چه دبل دلاس لاندی ژوند تېر کړی نوهروخت ئی‌داستعمار په‌خلاف په‌پوره ایمانی قوت‌سره مجاهده کړی او دآزادی په مقدسه لار کښې ئې دقربانیو اوفدا کاری نه‌ماتیدونکی ریکارډونه‌قایم کړی نوطبعاً دی ته هم‌حاضرنه شو چه دکراچی والو دغلامی جغ‌دې په‌اوږدیوسی .

همدا دپښتنی فطرت تقاضاوه چه پښتنی اولس دکراچی دبیګانه‌حکومت دحاکمیت اوخپل محکومیت خلاف ملاوتړله اودآزادی په‌پر امن جد اوجهد ئی ګونی پورې کړی .

نن دلوی خدای په‌فضل اودپښتنی‌اولس دآزادی‌خواهی‌دروح له برکته‌په ټول خپلواك پښتونستان کښې مقامی نیشنل اسامبلی جوړی او دخپلواك پښتونستان ننګیالی پښتانه دخپلو ملی بیر غونو لاندی راغونډ دی ددوی نصب‌العین‌دپښتونستان کامله آزادی او دپښتنی خاورې نه‌دصلح او امن په‌فضا کښې دمتجاوز اوغاصب غلیم لاس لنډول دی .

مګر متاسفانه چه‌بل‌پلو ګورو دپښتنودامن پسندانه رویې په‌مقابل کښې دپاکستان حکومت زورزیاتی اوتجاوزات دې حدته رسیدلی‌دی چه‌اوس نودپښتنو دپاره هم‌دتحمل اوصبرهیڅ ځای نه دی پاتی اونشی کېدای چه‌د پاکستان حکمرانانو دزور زیاتی په‌مقابل کښې‌نور له‌صبراوحوصلی نه کار واخیستی‌شی . ځکه چه‌دهرڅه دپاره یوحدوی اوهرڅه چه‌له حد نه واوړی زغمل ئې ناممکن شی .

پس هیڅ امکان نه‌اری چه‌د پاکستان حکومت دغصب په‌مقابل کښې دخپل مشروعه حق‌لاس ته‌راوړلو دپاره پښتانه عملی قدم پورته نکړی اوهر کله چه‌دپښتنو عملی اقدام او دپاکستانی تجاوز سره تصادم دیقین حدته رسیږی نوبه داسی حال کښې هرومرو منځنی شرق خپل امنیت بائلی او څنګه چه دنیا (اتومیتك کنیکشن) اری‌نوله‌دی نه‌به‌هم هیڅ یوه ماغزه انکار ونکړی چه داد حق وباطل ، ظالم اومظلوم تصادم به ټول شرق له‌ځان‌سره وچړکوی اودټولې نړۍ دامن فضا به په‌خپلو زهر آلوده لړوپه دېر لنډوخت کښې خړه کړی . دغه‌به‌وی ددنیا دریم عالم ګیر او دانسانیت تباه کو ونکی جنګ .

هو ! نو که چېرې واقعی څوك غواړی چه په دنیا کښې دبد امنی پیدا کېدلو مخه ونیسی او پری نږدی چه‌ددریم جنګ میدان ګرم شی . باید چه‌د غصب او تجاوز په‌مقابل کښې عملی اقدامات وکړی اود پاکستان غوندی دومینیون حکومت ته‌چه دخپلو نائکانو په اشاره دپښتنو په حقوقو دغاصبیت خپته غورځولی اوله‌دې کبله ددنیا دامنیت دپاره یوزبردسته خطر لاحق شوی دی . په مخ څېړه ورکړی اودپښتنو حق په‌رضا پښتنو ته وسپاری !!

دښاغلی فدامحمد صادم ترجمه

حسد او کینه

د انسان دفطری غرایزو څخه یوه غریزه حسد دی چه امکان لری په قطعی ډول سره ئې څوک له خپل زړه نه وباسی، حسدلکه جاه طلبی، حرص، غضب، دسړی په فطرت کښې اخښل شوی دی خودا غریزه په چا کښې ډېره قوی او په چا کښې ضعیفه وی، په هغه چا کښې چه دحسد غریزه قوی وی کولی شی چه په مشق او ممارست، تلقین، او ریاضت داحس په خپل نفس کښې لږ کاندی خوبا لکل امحا اوور کولی ئی یونامکن امر دی، په هغه چا کښې چه دامرض قوی وی ښائی لکه دسل مریض منظم پرهیز و کړی اوڅان دعلاج لاندې و نیسی او داسې رفتار و کوی چه دا مرض ورځ په ورځ کمزوری او ضعیف شی، ځینې کسان په دې عقیده دی چه دهغی وني نه چه خدای (ج) آدم علیه السلام منع کړې ؤ هغه دحسدونه وه چه دحضرت آدم نه دهغه او لاد ته منتقل شو او دحسد تا ثیر ؤ چه قابیل دهابیل قتل ته اقدام و کړ، اوترقیامته پورې به دانسانانو په منځ کښې کینه او فساد جاری وی، خوقرآن عظیم پدې قائل دی چه په جنت کښې به حسد او کینه نه وی، که څوک دجاه او نعمت خاوند یادښو او ښایسته ؤ زامنو پلاریانښه اخلاق یایوه لو یه رتبه ولری دحسود په ځان او ربل او دنیا ورباندې تورتم شی، حسود دانشی کولی چه دځان نه په علم، فضل، رتبه، مقام دمال اودولت کښې څوک جګ ووینی، کله هم دحسد منشأ رخه اوبغض وی که دچادبل چانه په یوه خبره زړه بداو په منځ کښې خفګان را شی او خپل انتقام ترینه نشی اخیستلی آرز و کوی چه روز ګار ورنه دده کسات واخلی که فرضاً کوم ضرر اوزیان ورته ورسیږی پرهغې ډیر خوشحاله او دخپلو دعاګانو اثرئې بولی که بالعکس کوم خیر او خوشحالی ورته پېښه شی دی خورا خوا شینی، او غمجن کیږی له خدای غواړی چه یولوی غم اوستر مصیبت ور باندې نازل او په بلا ئی اخته کړی، ځینی او قات طمع هم دحسد سبب ګرځی که یوسړی دمال دتحصیل یاد یومقام داشغال دپاره کوښښ کوی که بل څوک چه هغه هم ددغه معین مقصد دحصول په شا اوخوا کښې سعیه اوزیار کاږی پرهغه

حسدوړی او هاند کوی چه له منځ نه ئې و کاږی داسی نور ډېر مثالو نه هم شته، کله کله ذاتی بخل (خبث نفس) هم دحسد عامل کېدای شی دا ډله خلك بی له دې چه څوک ورباندې غرض و کړی ذاتاً دخدای دبنده ګانو بد غواړی او دچا ښه ورځ او خوشحالی نشی لیدی ددنیا په هره څنډه کښې چه خدای چاته کوم نعمت ور کړی لکه چه ددوی دشخصی جیب نه ئې ور کړی وی دحده تیرخفه او خواشینی کېږی دحسد پانګې دغه دی چه اجمالاً موذکر کړې دا هم ممکنه ده چه په کوم مورد کښې دا ټول عوامل یو ځای شی، البته دا رنګه حسد ډیرقوی، مهلک او خطرناک دی که دچا په نفس کښې حسد ضعیف وی طبعاً د هغه ذاتی بخل لږ او که قوی وی په هغه چا کښې خبث خورا ډېروی هغه څوک چه دحسد غریزه ئې ضعیفه وی فطرتاً شریف، منصف، قانع، او عاقل اشخاص وی، یوعالم وائې داسې ظالم مې ندی لیدلی چه مظلوم ته ورته وی مګر حسود ځکه دخلکو نعمت د دغه بی وزلی دځان بلا او عذاب وی یو بل عالم وائې: دحسود بهره دخلکو دمجالسو نه مذمت او خواری ده کینه ګر سړی تل بد ګمانه او بدبین وی دمعقولاتو نه لری او دسعادت څخه محروم وی کینه ګران د خدای دعدل او ددنیا دنظام نه منکر او تل ځان مظلوم او نور دخپل حق غاصبان بولی دوی متکبر او دځان نه راضی وی ځان د هرچا نه لایق او مستحق ګڼی؛ په مجالسو کښې د هرچا نه پورته کښینی، که څوک دخپل نفس اختیار ددغې غریزې په لاس ور کړی هر ګوره به ډېر خوار، ذلیل او دعامو په نظر کښې به منفور وی.

(پای)

(له خارجی مطبوعاتو څخه)

برهان الدین کشکی

د قندهار د ارغنداب بند

د(قندهار) اشرف الامصار دګرځېدو او دلیدو وړځایو څخه یوه هم د(ارغنداب) سمسوره او ودانه‌سیمه ده چه په تېره بیا په دې موسم کښې د (قندهار) زیاد تره خلق دهغې دلیدو دپاره ورځی. او دهغه سمسورې او تاریخی ودان ډنډ په شاؤخوا کښې اوږدی تفریحی مېلی او محافل جوړه وی . او په هغه سمسور اوږ دوبڼو او باغو کښې خوښی او خوشحالی کوی . هر څومره چه هوا تودېږی د(ارغنداب)رود هم لکه (دافغانستان) دعمومو رو دونو په شان په وچوالی پیل کوی او ورو ، ورو په عمومی ډول ددې رودد(طاس) نه یووچ او تود شګلن ډاك څرګند ېږی . مګر دهغه په (کأس) کښې ځای په ځای دفایدې نه ډکې وړې چینې بهېږی چه فی الجمله دخپل شاؤخوا محدودو مناطقو دڅکلو او به تکا فواو چمتو کوی. په هرحال د(ارغنداب دبند) دودانۍ نه مخکښې په‌اوړی د قندهار)دښار دشاؤ خوا داوبو لګولو پڼولو او ضاع ډېر ګران او ناوړه برېښېده او دبی آبۍ او آبرېزۍ او دعربدې دموحشی جګړې زیاد مناظر څرګند ېده . او دمیروانو او توار چیانو دښکولوو کښیکو لو بازار تود ـ اودشرفاؤ شریف او قات ددې جنګو او جګړو پریکړی او اروېدو او لیدو سره تېرېده .

څو کاله مخکښې له‌دې موقع نه چه « غازی » سپه سالار والا حضرت سردار (شاه‌محمود خان)صدر اعظم دخپلې دائمی وظیفی سره سم دنژ دې نه دهغه تاریخی ښار دملکی او نظامی چارو دکتلو دپاره لاړ او ددې آبرېزیو په څو قضیو چه دبې آبۍ نه‌ئې منبع اخېسته مطلع شواو دسرپه‌ستر ګو ئې د(ارغنداب)او(پنجوا ئی)اود (قندهار) دشاؤخوا دسیمودباغونو درقت نه‌ډك مناظرولیده چه‌داوبو دنیشتوالی دتطاول څخه تقریباً دهغې سیمې دثمر نه ډکوو نو دیوې پېړۍ محاصیل دتلف کېدو سره مخامخ دې . نو دچارو دمجاریو درپوټ په ترڅ کښی ئې موضوع داعلیحضرت المتوکل علی الله (محمد ظاهر شاه) سلمه الله تعالی مکارم ظهور حضور ته عرض او وړاندې کړه ،

دهمایونی مراحم دستور حضور به (عظمی صدارت) ته یو تذکر اعطاء شو چه دغه جدی او حیاتی موضوع چه د (احمد شاهی) گټور ـ ثمر راوړونکی ـ ودان او سمسور پلازمینی (پایتخت) به پاڼی رژېدو او خزان تهدیدوی په سمدستی او اساسی ډول ترغور او خوض لاندې ونیسی او یوه چاره وسنجوی چه نه یو اځې دهغې تاریخی سیمې ننني ودانۍ او سمسور والی ادامه ومومی . بلکه لاډېره سمسوره او زیاته ودانه او زیاته ثمر راوړونکې وګرځی.

دپوهو او باخبرو رجالو دتدقیق او تحقیق په اثر داسې فیصله وشوه چه د (سرده) دویالې دسربند دحدودو څخه چه زیاد تره او بوئی په کال کښې تقریباً نه میاشتی د (قندهار) سیمه خړو بوله ـ یو عصری او اساسی بند جوړ شی چه په هغه کښې د (ارغنداب) درود هغه او به ذخیره شی چه دهر شمسی کال په اوائلو کښی لکه د (افغانستان) دنورو رودونو په شان خرټېدونکی وی ـ او په ګرد کال کښې په صرفه او اقتصاد سره د (ارغنداب) دسیمی او دهغی دملحقاتو په پڼولو او سمسور والی کښې ورځنی استفاده وشی . نو دحکومت له پلوه د (موریسن کنودسن) دشرکت هغه انجنیران چه د (هلمند) په وادۍ کښی په کار مصروف وو ، مأمور او مؤظف شول چه دخپلو فنی مقتضیه مطالعاتو سره سم د (ارغنداب) دبند دجوړ ولو دپاره یو مناسب او مستعدځای علماً او فناً داسې تعین او چمتو کاندی چه د (ارغنداب) او د (احمد شاهی) پلازمینې دشاؤ خوا سیمی دپڼولو ټولې اړنیا وې په ښه وجه تکافو کاندی . مؤظفو انجنیرانو دغه مطلوب چمتو او تکمیل او مطالب ئې دزیاد تدقیق او تحقیق او دفنی مراتبو دتکمیل دپاره دامریکا (انټرنیشنل انجنیرنګ دیزاسن انجینرنګ) کمپنۍ ته ولېږل.

پس له هغه چه د (ارغنداب) دبند په ودانۍ او احداث پورې مربوطه ټول مراتب (دموریسن کنودسن د کمپنۍ دسانفرانسسکو) په اداره امریکا کښې تکمیل شول او مطلوبه معلومات او هدایتونه دفنی هیئت داستفادې دپاره (قندهار) ته ورسېدل او دهغو په اساس یو قرار دادو شو او دتقنینی مراتبو دتکمیل دپاره (کابل) ته را ورسېده او له (کابل) نه د هغه د منظورۍ . او اجراء او تعمیل امر اصولاً (قندهار) ته ورکړ شو چه دهغه په اساس د (۱۳۲۸ ش ه) کال په اوائلو کښې د (ارغنداب) دبند د اساسی او عصری ودانۍ په کار لاس پوری شو . د (ارغنداب) په دې بند کښې د او بویو منحرف کوونکی ټونل ددووسوو او څلور شپېتو مټرو په اوږدوالی کنودلی شوی چه شعاع ئې (۵،۴۰)

متره دی چه دهغه نه دبرقی قوي په تولید کښې په زیاتي مکفی اندازی کار اخیستل کیږی او (دقندهار) تخنیکی او حیاتی اوضاع ډیر هسک او جګوی .

داوبو دهغې ذخیرې څخه چه د (ارغنداب) دبند په کاسه کښې غونډی او ذخیره کیږی تقریباً څلور لکه جریبه ځمکه اوبه کیږی .

ددې دپاره چه دهیواد د سمسوروالی او ترقی میتان فی الجمله د(ارغنداب) ددې جدیدالاحداثه بند دظرفیت نه خبر شی لاندنی ارقام دې وګوری :

(۱):— د ارغنداب دبند هسکوالی پنځوس متره

(۲):— د لاندنی برخې اوږدوالی ئې دوه سوه او شل متره

(۳):— د پورتنی برخې اوږدوالی ئې پنځه سوه او دیرش متره

(٤):— د لاندنی برخې غټ والی ئې دوه سوه او شل متره

(٥):— خاوره او ډبرې او هغه واړه ګاڼی چه دبند په د کولو کښې لګیدلی ۲۵۰،۰۰۰ مکعب متره

(٦):— دبند د کاسې ظرفیت ۱۰۰۰،۰۰۰ یوفټ مکعب اوبه

(۷):— دبند ذخیره شوې رقبه ۲۵۳۰۰ جریبه

(۸):— د ارغنداب دجهیل اوږدوالی ۱۸ کیلو متره

(۹):— د ارغنداب دجهیل منځنی سور ۲ کیلو متره

(۱۰):— دتونل دسرنګ الوزولو مجموعه ۱۲۰٦۷ مکعب متره

(۱۱):— د مصرف شوی کانکریټ مجموعه ۲۲۰۰ مکعب متره

(۱۲):— داووتنو خارجی عایله لرونکو مستخدمینو دپاره دهستوګنې ځای .

(۱۳):— دنولسوتنو مجردو خارجی مستخدمینو دپاره د هستوګنې ځای .

(۱٤):— دپښتنی کاریګرو دهستوګنې دپاره سل کوره چه په هره کوټه کښې ئې دوولس تنه ویده کیدی شی .

ددې اجمالی معلوماتو دذکرنه وروسته دباختر آژانس د ۱۳۳۱ کال د حمل د۱۲ نیټې داطلاعیې په اساس تولوګرانو وطندارانو ته زیری ورکوم چه د(قندهار) د(ارغنداب) بند ۵۰،۰ فیاض شیردانو نه دلومړی ځل دپاره په فیضان او نبعان راغلی دی - او په زښت شدت او ګړندیتوب جاری شوی دی چه په هره ثانیه کښې داووسوفیټو مکعبو په حجم اوبه دهغو څخه را بهیږی .

دښاغلی روهیلی ټولونه
له هرې خوا

دشیکاگو دتسمیې وجه

شیکاگو دامریکا دلویو ښارونو څخه دوهم ښار دی! داښار دایلنوی به ایالت کښې دمشیگان دسیندگی په جنوب غربی کښې پروت دی! داښار پخوا وړوکی کلیؤ چه په کښې درې نیم سوه خلك اوسیدل لیکن نن ددغه ښار لویو عمارتونو او آسمانخراشو اود اوسیدونکو ډیروالی ته دنیا حیرانه ده!

دشیکاگو دښار نوم ددغې سیندگی نه آخیستل شوی دی سرخ پوستانو دغه سیندگی ته شی کاوگو (دوستی پیازبوی) وایه!

ددینامیت مخترع

دینامیت دمشهور سوئدنی مخترع «نوبل» اختراع ده! الفرد نوبل دسویدن یوشیمی پوهاندؤ ده په خپلو ازمېښتونو وکولی شو چه دغرونو، غونډیوالوزولو د پاره یوه ماده لاس ته راوړی!

ده په نمړی امتحان کښې یوورور اوڅودوستان ددینامیت په چاودنه له لاسه ورکړل دنوبل جائزه دده په نامه یادیږی!

واترلو

داځای دناپلیون نه وروسته مشهورشو، واترلو په بلژیك کښې دیوځای نوم دی اودا هغه ځای دی چه د متفقینو لښکرو دانگلیسی وینسگین اوالمانی بلوخر دوه لویو سردارانو په مشرتوب ناپلیون ته په کښې ماتې ورکړی دی، او وروسته له دغه تاریخی جنگ نه انگریزانو دی ونیو اود اوقیانوس اتلس بوې جزیرې ته ئی چه سنت هلی نو ښیزی تبعید کړ اوهلته مړشو!

په دنیا کښې څوورځ پاڼې خپریږی

یونسکو دمتحده ملتو دښوونی او پوهنې او روزنې جرگی وروسته له دې چه په توله دنیا کښې دورځ پاڼو را ډیوونو اونورو تحقیقات وکړل دغه شمېرئی لاس ته راوړ!

په دنیا کښې هره ورځ (۲۲٤۰۰۰۰۰۰) ورځ پاڼې خپریږی!

پاتی په ۲۰ مخ کښی)

داورنګ زیب معاشقه

په مغلي پاچاهانو کښې اورنګ زیب په دینداری مشهوردی او په دې وجه ئې په ځان باندی دمحی الدین لقب ایښی ؤ . وایی چه ده دمذهبی شیانو ډېرقدر کاوه او دینی چاروته به ئې د احترام په سترګه کتل مګر دا هر څه چه وو درکاټ په یومخ وو درکاټ په بل مخ ئې دمعاشقی خبری هم ثبت شوی دی ، دادی دده دمعاشقی ددفتر یوه پاڼه په لاندی کرښو کښې وګوری ، چه دمولانا ابوالکلام آزاد له (غبارخاطر) څخه را نقل شوی ده.

دهند د برهان پور په شاوخوا کښې زین آباد نومی یو کلی ؤ، په دې کلی کښې یوه ښکلی سرود ګره او سیده چه دزین آبادی په نامه مشهوره وه، دې سرود ګرې دخپل ښایست اوخوږ ونغمو په غشو او کټارو اورنګ زیب دشاهزاده ګی په زمانه کی ژوبل کړی ؤ — د اورنګ زیب ددغې معاشقی قصه ډېره خوند ناکه ده — نوغوږ ورته ونیسئی او وائی وریء —!؟

یوه ورځ اورنګ زیب دبرهان پور په «آهوخانه» نومی باغ کښې دهوا خوری دپاره قدم واهه، په دغه ورځ دده ترور دمیر خلیل خان زمان ښځه هم د خپلو خاصو خد متګارو سره دغه باغ ته دسیل او ګرځېدو دپاره راغلې وه. په دغو مېرمنو کښې، یوه زین آبادی هم وه چه دساز په نغمو کښې سحر ګره او په ناز ونخرو کښې بی نظیره وه .

(د ۱۹ مخ پاته)

ددې شمېر له مخې یواځې دامریکا دمتحده ملتو په ایالت کښې (۱۷۸۰) او په فرانسه کښې (۱٦٤) اوپه انګلستان کښې (۱۲۱) او په سویس کښی (۱۱۷) ورځ پاڼې هره ورځ خپریږی .

په دنیا کښې دراديو ګانو اوتلویز یونو شمېر

همدا ډول یونسکو وروسته دخپلو تحقیقاتو څخه له پاریس نه ددنیا د راديو ګانو اوتلویز یونو شمېر په دی ډول خپور کړی دی !

په دنیا کښې (۱۸۲۰۰۰۰۰۰) راديو ګانو دستګاوې او (۱۵۰۰۰۰۰۰) دتلویزیون دستګاوې موجودې دی .

او رنگ زیب دخپلې ترور درنگینی ډلی سره ملگری شو اودخوند او کیف نه ډک باغ وبڼ کښې په خوږه تفریح او هوا خورۍ بوخت شو .

دغه دلطافت ټولگی دیوی داسی ونی د سیوری لا ندی ودرېد ، چه لهڅانگو څخه ئې سره او زېړامونه را ځوړند وو — په دې وخت کښې زین آبادۍ نه د شهزاده څه پرواو کړه او نه ئې دده د ترور څه خیال وساته ، په پوره بی پروایۍ اوشوخۍ ئی ددغی ونی یوه او چت ښاخ ته ورټوپ کړ او مېوه ئې ترې راوشکوله — ، داشوخی د خان زمان په ماینه باندی ښه ونه لگېده او په څېره کښې ئې ورته قهر پیداشو په دې وخت کښې زین آبادۍ په مخصوص انداز کښې دناز اومکېزنه ډکی سترگی شهزاده ته ور واړولې او بیچاره ئې دزړه پهسرو ویشت ، دسترگو پهدې یوه گوزار ئې دشهزاده فیصلهو کړهاو دصبروقرار مانۍ ئې ورله ویجاړه کړه .

ډېر هوښیار به لیونی کاندی پوهېږم
کرشمی د پرېوارې بی څه نه دی

به دې باب، نواب شهنواز خان دماء ثرالا مرا مولف لیکلی دی « بکمال أبرام و سماجت زین آبادی را از خالهٔ محترمهٔ خود گرفته ، باآن همه زهد خشک و تفقه بحت ، شیفته ودلدادهٔ اوشد. قدح شراب بدست خود پر کرده می داد ، گویند روزی زین آبادی هم قدح باده پر کرده به دست شهزاده داد و تکلیف شرب نمود »

یعنی په ډېره زارۍ او منت ئې زین آبادۍ له خپلی ترور څخه واخیستله اوسره د هغی تشی پرهیز گارۍ او پوچی دینداری چه دی وربـاندی مشهور شوی ؤ د زین آبادۍ په عشق او مینه کښې داسی بی اختیاره او بې واکه شو چه په خپل لاس به ئې دشرابو پیالی ډکولې او هغی ته به ئې ور کولې — وایی چه یوه ورځ زین آبادۍ پهخپلولاسو دشرابو ډکه پیاله او رنگ زیب تهوړاندی کړه — شهزاده ورته په ډېره زارۍ وویل چه زما عشق او مینه ددې جام پهڅښلو مهازمیه لا کن ددې زړه پرې رحم ونه کړ آخر شهزاده له ناچارۍ نه اراده و کړه چه د شرابو په دغه پیاله باندې شونډی کېږدی کوم وخت چه دې د شهزاده بی بسی اوبی واکی ولېده او دی د پیالی څښلو ته تیارشونو زرئې ترې پیاله را خکله اووئی ویل : زماغرض دعشق امتحان ؤ هغه وشو —

دامعامله ورو ورو داسی حدته ورسیده چه شاهجهان پرې خبر شو او د واقعو د لیکونکو په پاڼو کښې هم ددې قصی خبری ولیکلی شوې داراشکوه ددې قصی په وجه د چوغلۍ موقع و مونده او پلارته ئی داورنگ زیب په سر ډېرې خبری ورسولی : چه وگوره دې ریاکار څه رنگه له ځان څخه پرهیزگار او ښه سړی جوړ کړی ؤ، دامعلومه نه وه چه داغوټۍ به څه رنگه غوړېد له ، مگر قضا او قدر په خپله فیصله وکړه او عین د ځوانۍ او پیغلتوب په وخت کښې زین آبادۍ له دنیا تېره شوه چه قبر ئې تراوسه په اورنگ آباد کښې دیو لوی تالاب په غاړه پروت دی وایی چه اورنگ زیب ددې په مړینه ډېر غمجن شو او سخته صدمه ورورسېدله نو په دغه ورځ ئې د ښکار کولو حکم وکړ — په دې خبره خلکو ته تعجب پیدا شو چه دداسی غم په ورځ ښکار او تفریح کول څه معنی لری ؟ کله چه اورنگ زیب ښکارته وووت نوسر لښکر عاقل خان په یو گوښی او ځانله وخت کښې اورنگ زیب ته عرض وکړ چه دداسی غم او نول په وخت کښې ښکارته تلل څه سبب لری؟ — اورنگ زیب په ځواب کښې داشعر ووایه :

ناله‌های خانگی دل را تسلی بخش نیست در بیابان می توان فریاد خاطر خواه کرد

په دې وخت کښې دعاقل خان له خولې نه داشعر وووت :

عشق چه آسان نمود ، آه چه دشوار بود هجر چه دشوار بود ، یار چه آسان گرفت

داورنگ زیب په زړه رقت او نرمی راغله پوښتنه ئی وکړه چه داشعر دچادی؟ عاقل خان وویل :

دهغه چادی چه ځان دشاعرانو په ډله کښې نه شمېری. اورنگ زیب پوه شو چه دا په خپله د عاقل دی. اورنگ زیب د موسیقی په فن کښې هم لاس درلود مگر په ښکاره ئې دې خبرو ته شا کړی وه .

په عمومی لحاظ دمغلو پاچاهان ټول عشرت پرست او په مستی او نشو کښې ډوب وو- داورنگ زیب دمعاشقی رکاټ مو واورېد ، خوشحال خټک ددی رکاټ په غاړه کښې داورنگ زیب د مسلمانۍ په باب یو شعر هم لیکلی دی چه هغه هم په دې ځایکښې واورۍ ،

چه په نام پښتون غوڅیږی دی خوښیږی اورنگ زیب هسی رنگ بادشاه دی داسلام

(رشتین)

د بناغلی «سیفی» ترجمه

له ثقافة الهند څخه

کلیله او دمنه ـ «پنچ تنترا»

کلیله دمنه دهغه مشهور کتاب نوم دی چه تعارف ته هیڅ ضرورت نه لری ' او دا ځکه چه دا کتاب په نړۍ کښې تردې اندازې شهرت او اهمیت لری چه د نړۍ په اکثرو ژوندو ژبو کښې ترجمه او چاپ شوی دی او لکه چه د ایوه ښکاره خبره او ثابت حقیقت دی دا کتاب دهغه هندی کتاب څخه اخیستل شوی چه دغه کتاب د سنسکرت په ژبه کښې لیکل شوی دی او په دغه ژبه کښې دا کتاب « پنچ تنترا » (panchtantra) نومیږی مونږ په دې مقاله کښې په دې موضوع بحث کول نه غواړو چه دا کتاب او کلیله دمنه په خپلو مخکو کښې د یوبل سره ترکومې اندازې نزدیوالی لری بلکه مونږ په دې مقاله کښې دا حقیقت ښکاره کول غواړو چه ددې کتاب د تالیف علت او سبب کوم شی ؤ ؟

په کلیله دمنه کښې د کتاب د تالیف سبب قطعاً نه دی ذکر شوی بلکه دغه کتاب دهند دپاچا (دبشلیم) او دفلاسفه ؤ دمشر (بیدپا) په نوم په دې مضمون شروع شوی دی چه ماته دهغو دووخوږو دوستانو کیسه بیان کړه چه هغوی دښمنانو او چغل خورو دخپلو شیطانو په اثر دیوبل څخه جلا کړی او دغه دواړه خواږه دوستان ئې د یوبل غوښو ته کښېنولی دی لیکن په پنچ تنترا کښې د کتاب د تالیف سبب په دې مضمون ذکر او بیان شوی دی' په جنوبی بلادو کښې (بهجة العذراء) نومی یو ښار ؤ چه ددغه ښار د پاچا نوم سلطان خالد و اودغه پاچا ډېر هوښیار او د ژوندانه په چارو کښې ددېر مهارت او پوره بصیرت خاوند ؤ دی پاچا تر دې اندازې شهرت او هیبت او دبد به درلوده چه ددېرو پاچاهانو تاجونه به دده په پښو کښې رغړیدل او دده په دربار کښې به پاچاهان په ډېر ادب ولاړ او دده احترامونه او تعظیمونه به ئې کول ' دا پاچا د ژوندانه د ښایسته کولو په چارو او فن کښې نابغه ګڼل کېده ' دې پاچا دری زامن درلودل چه دیو نوم سلطان غنی او دبل نوم سلطان عنیف او ددریم زوی نوم ئې سلطان الابدی ؤ ' ددې پاچا دغه دری واړه زامن ډېر زیات غبیان او ابلد وو او د علم دزده کړې او تحصیل څخه به ئې کر که او نفرت کاوه .

هر کله چه پاچا ته دا حقیقت ثابت شو چه دوی د تعلیم او زد کړې څخه ډېره کر که او نفرت کوی نو خپل مشوران او نور ډېر پوهان ئې سره راټول او هغوی ته ئې ددغو راټولېدلو مطلب په دې مسمون ښکاره کړ .

ګرانو او محترمه حاضرینو ! تاسې ته به داخبره معلومه وی چه زما دا زامن دعلم او زد کړې څخه کر که کوی او دوی دعلم او معرفت څخه په قطعی ډول محروم او بی برخې دی او هر کله چه زه ددوی دغه وضعیت ته ګورم نوزه ور باندې ډېر خپه او متاثر کېږم او ددې مقام په مستقبل چه نن ورته ډېر لوی لوی پاچاهان په ډېرادب او ټیټ سرونه ولاړدی ډېر حسرت کوم ، دی کارزه نردې اندازې خپه او متاثر کړی یم چه ددې پاچاهۍ او مقام څخه ئې زمازړه تور کړی دی .

ګرانو حاضرینو ! تاسې ته داخبره هم معلومه ده چه داولاد نالایقی او ناپوهی داولاد دنشت والی او داولاد دمرګ څخه ډېرزیات بدتاثیر لری ، او تاسې به دامشهور و متل هم اور یدلی وی چه انسان داولاد دنشت والی او د مرګ غم ځغملی شی لیکن د بداو نالایق اولاد د غم ځغمل ډېر ګران دی او دا یودار ازغم دی چه هېڅوک ئې نشی زغملی ګرانو حاضرینو ! دبد معاش او بداخلاق اولاد مثال د هغې غواپه شان دی چه نه شودې کوی او نه لنګېږی ، او تاسې ته داخبره معلومه ده چه شنډه او وچه غوا څه په کارده او دداسې غواو جود انسان ته څه ګټه لری ؟ نواوس زه له تاسې څخه غواړم چه تاسې پوهان یوه دارازو سیله پیدا کړی چه د هغې وسیلې په ذریعه زمادزامنو دعلم سره مینه پیداشی او د هغې وسیلې په ذریعه د هغوی ذکاوت او پوهه راویښه شی او په دې وسیله هغوی د سباورځې دپاره دټولنې ګټور غړی شی !!

ددې وینانه وروسته د حاضرینو یوې ډلې پاچاته په دې مضمون ځواب ور کړ :

ای زمونږ ګرانه او محترمه پاچا ! د ذکاوت درا ویښولو او را بیدارولو دپاره له ټولو څخه لومړی دا خبره لازمه ده چه اول انسان د ولس کاله د صرف او نحوې علومه په زد کړه او تحصیل کښې تیر کړی او ددې علومو د زد کړی او تحصیل نه وروسته دنورو دینی او دنیوی علومو په زد کړه او تحصیل پیل و کړی .

لیکن له دغې ډلې څخه یو شخص چه (حاذق) نوم ئې در لود ددغې لومړی ډلې دنظریاتو څخه مخالفت و کړ او په دی مضمون ئې وینا و کړه :

ای گـرانه پاچا ! عمر په شمیر یوڅو ورځې دی ؛ او دلغوی علومو زد کـړه ډیر زیات عمرغواړی نو له دې کـبله زه دا خبره لازمه گـڼم چه ددوی داذهانو اوذ کـاوت دراوینبولو اورا بیدارولو دپاره یوه لنډه لاراو مختصره طریقه پیدا او تجویز کړیشی ' دغه شخص په خپله دغه نظریه داهتل تیر کـړ:

لغوی علوم بی انتها او ډیر زیات دی او د انسان عمر ډیر لږ او لنډ او د مشـکلاتو او مصائبو د فشار لاندې دی ' نو په دې صورت کـښې انسان باید په اساسی حقـا یقو اکـتفا و کـړی او ضروری اوغیر ضروری علوم د یوبل څخه داسې بیل او جلا کـړی لـکه څنـگه چه مرغابی او هیلی له اوبو څخه شودې جلا کـوی .

وائی چه په دی ښار کـښې یو (وشنو شرمـا) نومی هندو دی چه هغه په ځـینو علومو کـښې لوی لاس او پوره شهرت لری او کـه زما په فـکر داشهزاد گـان هغه ته و سپـارلی شی نو د هغه د تعلیم په اثر بـه د دوی ذ کـاوت را وینې او د معظم پا چا هیلې به تر سره شی !!

نوددې پورته معلوماتو په اساس ددی کـتاب دتالیف سبب دپاچا زامنـو ته دژوندانه د لارو تعلیم او هغوی ته د سعـادت او مسعود ژوند د سمی لارې او طریقې ښو دنه ده او ددې کـتاب دواضح نوم «وشنو شرما » Vi-hnusha ma دی او لـکـه چه په کـلیله د منه کـښې لیـکـل شوی دی بید پـانه دی د کـلیله دمنه په آخر کـښې دا مضمون لیـکـل شوی دی :

هر کـله چه پاچا د دغه فیلـسوف میلمه سره تـر در وازې ورسیدنو پاچا چپ شو او فیلسوف وویل : ای پاچا ! تازر کـاله ژوندو کـړ او په (۷) اقلیمودی حـکومت و کـړ او تاته خدای هرڅه ډیر او تبر در کـړی دی او تاد خپل ځان او خپلو رعـایـا ؤ په خوشحالولو کـښې ډیر کوښښونه کـړی دی ...او ماتاته دتولو چارو تشریح و کـړ او کـومې پوښتنې چه تاله ما څخه کـړې وی د هغومې لنډ ځواب در کـړ او تاته مې ډیر صحی نظریه در کـړه او تاته به زما دجوابونو څخه زما علم اوذ کـاوت معلوم او څر گـند شوی وی نو ته اوس په دې مسئله کـښې په ډیر ښه نیت قضاوت و کـړه ' او په ښه ډول زما تقدیر و کـړه ..... پاچا ددې خبرې د اوریدلو نه وروسته د خزانو دروازی بیرته کـړې او فیلسوف ته ئې امر و کـړ چه څه دې خوښ دی او هر څومره چه اخیستی شی واخله

او تا هیڅوك نه منع کوی اوهر څومره سپین اوسره او لعلونه او مرغلري او نور هر ډول قیمتی شیان چه دي خوښیږی یوسه! تاته عامه اجازه ده، اوپه دی لار کښی تاته هیچ قسم مانع نشته دی، برسیره پردغو شیانو پاچا ده ته نوري ډیری ځمکی او جایدادونه هم ورکړل او داسي جګ منصب او ډیر مالونه ئي ورکړل چه په هغه وخت کښی په مال او رتبه اوقدر او منزلت کښي ده ساری نه ؤ .

کوم مطلب چه په دي عبارت کښي ذکر شوی دی هغه د(پنچ تنترا) دمفهوم او عبارت او هندی روح او هندی حکماو دمسلك څخه بالکل مخالف دی . بلکه دغه یودا راز مضمون دی چه دهیچ کوم یوحقیقی فیلسوف دشان او مقام سره به مناسبه نه وی، او دا ځکه چه په پخوانی هند کښی دعلم خرڅولو او اخیستلو قطعاً رواج نه درلود بلکه په پخوانو وختو کښي به علماؤ او پوهانو دعلم او معارف په لار کښي ایثارونه اوقربانی کولي او دعلمی خدمتو په مقابل کښي به ئی دروپو اونورو شیانو معاوضه لاڅه چه دتش تشکر او امتنان هیله به ئي هم له چا څخه نه کړله اونه به هغوی ددغو شیانو دپاره کار کاوه .

دغه مطلب پنچ تنترا په دي ډول ذکر کړي دی : چه پاچا دخپل دغه مشاور خبره ومنله او وشنو شرمائي راوغو ښت او په دي مضمون ئي ورته وینا وکړه ای پیاوړی محترمه پوهه! زه له تاڅخه داهیله لرم چه ته دخپل تعلیم اوزیار په اثر زمانه دي زامنو څخه دعملی حیات په علم کښي نابغي جوړي کړي اوزه به تاته ستا ددي زیار په مقابل کښي سل قطعي ځمکه در کړم .

لیکن برهمی حکیم دمعاوضي او مکافات دتردید په خصوص کښي په دي مضمون وینا وکړه :

ای پاچا !زما خبرو ته غوږ ونیسه اوزه تاته داخبري په رښتیا سره کوم . زه له هغو خلکو څخه نه یم چه هغوی علم خرڅوی .ددي نه وروسته زه ستا په مخ کښي ددي خبري اعلان کوم چه که چیرته دادپاچا زامن په عملی ژوند کښي نابغه ګان نه شول نوزه به ځانته بل نوم کښیږدم .

ته زما آواز ته غوږ ونیسه دازما آوازدزمری دغږ سره ډیر زیاد شباهت لری زه دي حالت ته بی وزلی اودي خبري را رسولی یم چه زه هیچ مال او دولت نه لرم اوته

په دې پوه شه چه مال په دې وخت او حالت کښې ماته هیچ قسم ګټه نشی را رسولی زه اوس زوړ او سپین زیرې شوی یم او اوس داتیار کالو سړی یم اوس زما شهوات او نور خواهشات د کاره لویدلی دی نو په دې صورت کښې به زه مال څه کړم ؟.... !!

دادهغه کتاب دتالیف سبب دی چه په پنځو بابو او یا پنځو کتابو او یوه مقدمه پنج تنترا مشتمل دی. اوس غواړو چه له دې بحث نه وروسته په خپله په پنج تنترا بحث وکړو . باید داحقیقت پټ پاته نشی چه د کتاب د تالیف سبب دحقیقت سره موافق او برابر نه دی. او داځکه چه داخبره هیڅ کوم یوعقل او منطق نشی منلی چه د کتاب دتشو کیسو او نکلو و داوریدلو په اثر دپاچا دزامنو اذهان روښانه اود هغوی عقل او فکرونه خلاص شول ښکاره او معقوله خبره داده چه مؤلف دتالیف ددغه سبب دذکر کولو په اثر یو داراز لار پیدا کړې ده چه په دغه لارده خپله کیسه او نکلونه روان کړی دی او ده دپاره ددی ډول سبب پیدا کول له دی کبله ډیر آسان او ضرورو چه په دغه وخت کښې په هند کښې دپاچا هانو سلطه او اقتدار ډیر زیات ؤ نوله دې کبله د کیسو او نکلونو انتساب دوی ته یو ډیر آسان او مناسب کار ؤ ، په وید اودهندوانو په نورو کتابونو کښې کیسې پیدا کیږی؛ اوله دې کبله چه په پخوانو او لومړیو پیړیو کښې خلکو کتابونه په بیل بیل علم نه وویشلی بلکه دوی به هر څه چه زده کول لکه فلسفه ، تاریخ ، سیاست . کیسې ، او نکلونه اونور علوم شول نو ټول به ئی په یو کتاب کښې جمع او یو ځای کول ډیرې پیړۍ وروسته خلك دې نقیصی ته ملتفت شول او بیل بیل علوم او موضوعات ئې په جلا جلا کتابو نو وویشل لکه چه په دی لړ کښې نن د کیسو او نکلونو علم یو ځانته مستقل فن اود تعلیم او روزنې دپاره یو مهم عامل ګڼلی شی .

د کوم وخت نه چه انسان په خبرو پیل کړی دی دمغې وخت نه په انسانی ټولنو کښې کیسو او نکلو او افسانو او داستانونو هم دخلکو دمفکورو او احساساتو سره سم رواج موندلی دی لیکن دفن پوهان ټول په دې خبره متفق دی چه پنج تنترا په نړۍ کښې د کیسو په کتابونو کښې لومړی او ډیر پخوانی کتاب دی او وائي چه دا کتاب

په میلا دی لومړی پیړۍ کښې جوړاوتا لیف شوی دی اودغه کتاب په ابتداء کښې (بادی‌ذی بده: نیتی شاستر) (N ti sh tara) یعنی کتاب السیاسته نومید او لکه چه وړاندې موویلی دی دا کتاب د(وشنو شرما) تالیف دی .

نوموړی مؤلف په خپل دغه تالیف (پنچ تنترا) کښې ځینې حکایات دمها بهارت څخه اقتباس کړی دی او د نوموړی کتاب ځینی کیسی دمهابهار تا څخه هم ډیرې پخوانۍ دی . او د ځینو هغو مؤلفینو نمونه چه په دی کتاب کښې ذکر شوی دی دادی :

راماسن؛ منو سمرتی. منو، شانکیا. له دې پورته ذکر شوو نومونو څخه داحقیقت په یقینی او ښکاره ډول څرګند ېږی چه (وشنو شرما) د(شند راګپتا موریه) نومی امپراطور نه وروسته پیدا شوی دی په‌دې کتاب کښې دهندوانو دځینو رهبانانو نومونه هم ذکر شوی دی، اوله دی کتاب او واقعاتو څخه معلو مېږی چه بو دائی دین په هغه وخت کښې رسمی دین ؤ . له دی ټولو خبرو څخه دا معلو مېږی چه وشنو شرما دقبل المیلاد په وروستی پیړۍ د کوشان دپاچا هانو په دوره کښې پیدا شوی دی اودا هغه پاچاهان ووچه په بودائی دین ئې عقیده درلوده او کنشك نومی پاچا ددې دورې دپاچا هانو مشر او ددې کورنۍ رئیس ؤ ، او وائی چه ددې امپرا طورۍ لمنې په جنوب کښې و کاشی څخه تر بند هیاچل او په شمال کښې تر کاشغر او یار قنداو ختن او په غرب کښې تر فارس پورې غوړ یدلې و ، او برسیره پر دې په دغه امپرا طورۍ کښې متحده اضلاع او پنجاب او کشمیر او ټول شمالی هند او دمنځنی آسیا یوه ډیره برخه هم شامله وه او د دې امپرا طورۍ مرکز ټکسلا نومی ځای ؤ چه داندوس په غاړو پروت دی . په پنج تنترا نومی کتاب کښې یوه برخه نظم هم شته او په دغه نظم کښې ناظم د حیواناتو او مارغانو په ژبه دهرڅه وړاندې داخبره ثابته کړی ده‌چه دعلم نړۍ دنورو ټولو شیانو څخه یوه ډیره ښه او ډیر قیمتی شی دی او داځکه چه دا یو دا راز شی دی چه نه ئې دانسان څخه غل پټولی شی او نه ئې ورڅخه څوك په زور اخیستلی شی او نه دا بی نظیره نعمت خلکو ته په ور کولو خلا صېږی بلکه داجګ نعمت په خلاف دنورو نعمتونو په ور کړو باندې لاډیر ېږی .

(نور بیا)

د شمالی او جنوبی پښتونستان د مشرانو او علماؤ لویه مهمه تاریخی جرگه چه د منځنی پښتونستان موقتی مرکز (گرویك) ته تللی وه هلته ئی د منځنی پښتونستان له رئیس جناب میرزا علیخان او نور ومشرانو سره د جوزا په ۸ یوه تاریخی جرگه وکړه او دا وروسته مهمې فیصلی ئی وکړی .

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

نن د روژې مبارکې میاشتی په پنځمه او د ۱۳۳۱ کال د جوزا د میاشتی په اتمه ورځ مونږ د منځنی پښتونستان د ایالتی موقتی حکومت رئیس حاجی میرزا علیخان او د شوری رئیس ظهیر الدین خان رمضانی او د جنوبی پښتونستان د ایالتی موقتی حکومت رئیس محمد ایوبخان او د شمالی پښتونستان د تیراهانگی د ملی محلی شوری رئیس حاجی نوردل خان او د اپریدی قوم لوی مشران ملك ولی خان کوکی خیل او ملك سید احمد خان زخه خیل د مومند وخانگی د ملی محلی شوری رئیس محمد شعیب خان دور کزو خانگی د ملی محلی شوری رئیس ملك عمر اصغر خان د صافو خانزاده گانو او شینوارو د ملی محلی شوری رئیس زرغون خان د چترال شهزاده آبحیات خان او د چترال د موجوده صدر اعظم دلارام خان زوی محمد عثمان خان د منځنی پښتونستان په مرکز (گرویك) کښې په د اسی حال کښې چه د پاکستان د تجاوز کار امپریالست او ظالم حکومت الوتکی پرله پسی د گرویك په آزاده فضا کښې پرمونږ باندی د تجاوز په غرض گرځی را گرځی او مونږ او د منځنی پښتونستان زرکونه توریالی خلك تهدیدوی سره غونډ شوی یو او دالاندې مواد چه د خپل گران ملك پښتونستان د آزادی د تکمیل په لاره کښې ئې ضروری گڼو په یوه اتفاق فیصله کوو :

اوله ماده :

استعماری قوتونو د همیشه د پاره د پښتونستان په خاوره کښې د خپلو استعماری ناپاکو مقاصدو د پاره د اندې بهولو د پاره په پښتنو کښې د اختلاف اچولو او تفرقه اندازی نه

استفاده کړیده اوچه کوم وخت ئې په پښتنو کښې په یوه اوبل نامه بېلتون اچولی دی زمونږ په خاوره کښې په لږ دېر راوړاندې کېدلو موفق شو یدی لکه چه اوس هم دپاکستان حکومت په مختلفو دسیسو اووسیلو کوشش کوی چه زمونږ ترمنځ اختلاف پیدا کړی اوپدې وسیله زمونږ په ملک کښې خپل ناروا استعماری مقاصد په مخ بوزی ددی دپاره نومونږ فیصله کوو چه که آینده دپښتونستان دآزادو علاقو په هره برخه دپاکستان یا کوم بل خارجی طاقت له خواهر قسم تېری اوتجاوز وشو ، دشمالی منځنی او جنوبی پښتونستان ملی مرکزونه اوخلک به په یوه اتفاق دهغه تجاوز مقابلې ته دریږی او پخپلو تولو مادی اومعنوی قواؤ به دهغه مقابله کوی اوهمدا رنګه به دشمالی منځنی او جنوبی پښتونستان تول ملی مرکزونه اوخلک به په یوه اتفاق دپښتونستان دمحکوم او هغو علاقو دآزادولو اونجات دپاره چه دپاکستان داستعماری حکومت تر اثر لاندی دمرګ اوژوند په مجادله ختمه دی په یوه اتفاق مجاهده کوی اوپدې مقدسه لاره کښې به دتولو ممکنو وسیلو څخه کار اخلی .

دو همه ماده :

مونږ دپاکستان له حکومت نه په ټینګه تقاضا کوو چه دپښتونستان آزادی اود خاورې تمامیت فوری دروغی اوامن په دائره کښې ومنی اودپښتونستان تول هغه کسان چه دپاکستان په جیلخانو کښې پراته دی اوپائی ترنظارت لاندې نیولی دی سملاسی او بیله شرطه خوشی کړی اومونږ مجبور نکړی چه پدی کار کښې خپل طاقت اوقوت استعمال کړو .

دریمه ماده :

ددې دپاره چه د تول پښتونستان دتولو قواؤ اوملی منابعو تمرکز اوبوولی تکمیل شی چه (دا کار دملی آزادی د ګټلو دپاره دهرڅه نه ډېر لازم او ضروری دی) نومونږ فیصله کوو چه ددی ملی مقصد د ګټلو په لاره کښې به کوشش کوو اوزیار به باسو چه زر ترزره خپل دغه اوی مقصد ته ورسیږو .

څلورمه ماده :-

ددې دپاره چه د شمالی ، منځنی او جنوبی پښتونستان

د گردیز په هوائی ډگر کښی محترم خلك خپلو معززو میلمنو ته د خوشحالی او احترام مظاهره کوی .

د گردیز دښار او شاوخوا خلك خپلو درنو میلمنو ته د استقبال په حال کښې .

دملی مرکز ونو او خلکو تر منځ دیو والی او وحدت مزی پوره ټینګ شی او دنژ دي نه دائمی ارتباط سره وساتلی شی . مونږ دجنوبی، منځنی او شمالی پښتو نستان ترمنځ ددا راز جرګو تګ راتګ لکه چه نن مونږ دلته راغلی یولاز می ګڼو په دې واسطه فیصله کوو چه آینده به وخت په وخت د شمالي منځنی او جنوبی پښتو نستان ترمنځ دنما یندې جرګو لیږلو را لیږ لو ته دوام ور کوو .

پنځمه ماده :-

دافغا نستان ملت او ملی حکومت چه دپښتو نستان د آزادۍ د ګټلو په لار کښې کوم اخلاقي کو مکونه او معاونتو نه زمونږ سره تر او سه کړی او کوی ئی هغه ددینی او نژادی یو والی او ور ورو لۍ حقوق دی چه دپښتو نستان ملت ئي پخپلو افغا نی ورونو لری او ددې له امله مونږ اعلام کوو چه زمونږ او دافغا نستان غم او ښادی سره شریك دی دافغا نستان دوستان دپښتو نستان دوستان او دښمنان ئي دپښتو نستان دښمنان دی او همدا ډول دپښتو نستان دوستان دافغا نستان دوستان او دښمنان ئی دافغا نستان دښمنان دی .

شپږمه ماده :

دجرګې په پای کښې مونږ خپل وجدانی او ملی فرض ګڼو چه مونږ دافغا نستان دورور او ډېر همدرد او خوا خوږی ملت او ملی حکومت دهغو صمیما نه او لوړو اخلاقی معاونتونو او مرستو نه دپښتو نستان دملت په نمایندګۍ درزه د کومی شکریه ادا کړو چه دپښتو نستان دآزادۍ دمجا هدو په سلسله کښې دپښتو نستان دملت سره کړی او کوی ئی مونږ د ګران افغانستان دمحبوب اوقام پرور پادشاه اعلیحضرت المتوکل علی الله محمد ظاهر شاه (سلمه الله تعالی) نه خواهش کوو چه زمونږ او دپښتو نستان دملت دشکرانې مراتب خپل ګران افغانی ملت ته ورسوی او داډ ور کړی چه دپښتو نستان دملت او سنی افراد او را تلو نکی نسلونه به هیڅکله دد وی دغه لوړ اخلاقی معا ونتو نه هېر نه کړی او ددې دپاره چه زمونږ دآزادۍ په لاره کښې دغه مجا هدې او قربانۍ او دافغانی ملت او حکومت دغه اخلاقی مرستی زر تر زره خپلی مطلو بې نتیجې ته ور سېږی هیله کو و چه زمونږ سره ددغو اخلاقی مرستو په

وسیله نه یواځې زمونږ د ګران پښتو نستان د آزادۍ او تمامیت د ګټلو په لاره کښې مرسته کوی بلکه دمنځنۍ ایشیا او با لنتیجه د دنیا د امنیت او روغې دساتلو په لاره کښې هم لویه مرسته او د بشریت د پاره لوی خدمت کوی .

اومه ماده :-

په پای کښې د امریکی ، یورپ ، هند او نورې دنیا د او سیدو نکو پښتنو د هغو ښو کوششو نو او مجاهد ونه هم تشکر کوو چه د خپل ګران ملك پښتو نستان د آزا دۍ د ګټلو په لاره کښې ئې کړی او کوی ئې او داد ور کوو چه پښتانه به د د وی دغه خدمتونه چه ډیر دیسی په حال کښې ئې د خپل ملك د پاره کړی او کوی ئې هیڅوخت هیر نکړی .

ومن الله التو فیق وعلیه التکلان

دمنځنۍ پښتو نستان د حکومت رئیس ، دمنځنۍ پښتو نستان د شوری رئیس ، د جنوبی پښتو نستان د حکومت رئیس ، د شمالی پښتو نستان د تیرا ځانګی رئیس ، د شمالی پښتو نستان د تیرا لوی مشر ، د شمالی پښتو نستان د مومندو ځانګی رئیس . د شمالی پښتو نستان د باجوړ ځانګی رئیس ، د شمالی پښتو نستان د صافو خانزاده ګانو رئیس ، د چترال شهزاده ، د چترال د صدر اعظم زوی د شمالی پښتو نستان د روکزو ځانګی رئیس .

په ارګون کښې دښونځی شاګردان ګرانو میلمنوته دپښتو نستان دآزادۍ ترانه اولی .

په کرویک دمیلمنو او کورنیو دغوندي یوه منظره

د پښتو قصې

عجیبه واعظ

یو سړی په یوه جمعات کښې دوعظ دپاره منبر ته وخوت نو اول ئې د خلقو نه دا پوښتنه وکړه، چه ای خلکو! تاسو پوهیږئ که نه؟ دوی ورته په ځواب کښې وویل: چه هو! دی دستی له منبر نه را کوزشو اووئې ویل چه پوهیږئ نو بیا زما ویلو ته څه ضرورت دی؟ بله ورځ بیا راغی خلک په جماعت کښې ټول شوی وو په منبرو خوت د خلکو نه ئې بیا پوښتنه وکړه، چه پوهیږئ که نه؟ د لته خلکو خیال وکړه چه دا پیره بل شانته ځواب پکار دی نو ځینو ورته وویل: چه پوهیږو، او ځینو ورته وویل: چه نه پوهیږو، دی بیاله منبر نه کوزشو اووئې ویل هرڅوک چه پوهیږی هغه دې ناپوهان پوه کړی، دا کار خو تاسو په خپله هم کولی شئ نو ماته په کښې څه ضرورت دی؟ بله ورځ بیا جماعت ته راغی او نیغ په منبر و درید او خلکو ته ئې وویل: چه خدای مووبښه غوږ کېدئ چه یوڅو مسئلی در ته کوم خلک ټول غلې شول او غوږئې کېښود چه ملاصاحب به اوس څه مسئلی کوی؟ ده ترې بیا پوښتنه وکړه چه پوهیږئ که نه؟ دا پیره دوی ځواب ور کړ چه نه پوهیږو، دی بیاله منبر څخه را کوزشو او وئې ویل: تاسو چه خدای نه ئې پوه کړی نوزه به موڅه پوه کړم د ناپوهو پوهول هم کران دی، دائی وویل او جماعت نه ووت!!

په ځای شومتیا

وائې چه یولوی عالم ؤ مګر دېر شوم او بخیل ؤ داسی شوم ؤ چه پیسې نه به ئې شل غوتې اچولې او لوی واده ئې په شومتیا باندی خبروو، یوه ورځ ترې چا پوښتنه وکړه چه ته یو عالم او لایق سړی ئې او څوك ستاپه فضل او علم خبر دی نو که دا دومره شومتیادې نه کولی ښه به وه، ځکه چه ستا دشان سړه شومتیا ښه نه ښکاری، ته په سخا او کرم باندی ښه برېښی — دی سړی چه ورته دا خبری وکړې نوده ورته وویل چه ته زماد شومتیا په وجه خبر نه ئې که خبر شوی نو بیا به داسې خبرې ونه کړې، اونه به در ته دازما کار بد ښکاره شی نو داقصه ئې ورته شروع کړه!

وروره یوه ورځې په بازار کښې راروان وم یو ختکی ته می زړه وشو یو دوکان دار ته ورغلم چه دا ختکی په څوور کوې؟ دکاندار په غصه او قهر راته وویل: چه څه دالا ستاد خوراك شوی نه دی، ماورته ووې چه دومره قارته څه حاجت دی؟ زه درنه د قیمت پوښتنه کوم او ته وائی چه څه ستاد خوارك نه دی. چه زماد خوراك نه دی نودچا دخوراك دی؟ زه درته سړی نه ښکارم؟ په اخر کښې ئې راته وویل: چه قیمت ئی پنځه روپۍ دی، واخله کنه؟ ماورته وویل: چه پنځه روپۍ د خدای لار نه ده، درې روپۍ به در کړم، دې لا په غصه شو او را ته ئې ووې څه څه ته ختکی نشې اخیستلی هیڅ ساعت تېروی چه زه ترینه را روان شوم، په دې کښې کورم چه دیوه طرف نه یو مالدار سړی راغی؛ چه په خپل کلی کښې ئې د زرو اشرپیو اعتبار درلود دو کاندار ورته له دو کانه سپک پورته شو او ورته ئې وویل: صاحب! یو ښه ختکی می ساتلې دی، که ستاسو طبیعت کیږی چه کورته ئې در وړم، هغه ورته ووې ښه ده بیائې را وړه دو کاندار ختکی په لاس دمالدار د کور دروازې ته ورغې، مالدار ورله دمزدور په لاس دوه روپۍ را وایستې دی په خوشحالۍ بېرته خپل دو کان ته راغی لکه چا چه ز راشرپۍ وربښلې وی ماچه دا قصه ولیدله نو ډېر اریسان شوم او تعجب مې وکړ چه دا څه وجه وه ماته ئی په دې روپۍ نه را کاوه اودې سړی ته ئې په دوه روپۍ کاله ته یوړ اولاخوشحاله هم دی دی. نو په زړه کښې مې وویل چه خدایږ ونور څه چل نشته فقط دهغو زرو اشر پو برکت دی داسړی په دې کلی کښې دزرواشرپو اعتبار لری نو ځکه ئې دغه دو کاندار دومره خوشامنده وکړه پس له هغه راته معلومه شوه چه څو پورې سړی د زرو اشرپو خاوند نشی؛ هغی پوری ورته څوك دسړی نظر نه کوی نو اوس می قصد کړی دی چه په هر صورت چه وی باید زراشرپۍ پیدا کړم چه په سړو کښې شمیر شم.!!

سمد ستی مېوه

وائی چه په یو ځای کښې یو زوړ سړی لګیاؤ دښوونه ونه ئی کرله یو پاچاور باندی راغی یو ساعت ورته په فکر کښې ودریده اخر کښې ئې ورته وویل چه سپین زیریه داوخت اوس ستا دښو ونه دکرنې نه دی ولی چه ته سپین زیری سړی ئې دکور په غاړه ولاړ ئی او ښوون یو ه داسی ونه ده چه ډېره مده وروسته مېوه نیسی نو خدای خبر دی چه ستا

به‌دومره عمروی او که‌نه‌وی چه‌ددې‌ونې میوه وخوری سپین زیری ورته وویل . چه پادشاه قربان دی شم زه ئې په دی نیت نه کرم چه‌زه به‌ژوندی یم اوزه به‌ئې میوه خورم ، بلکه زه‌ئی ددی پاره کرم چه‌زمانه وروسته نور خلك خو به‌ئې میوه وخوری ددنیا هم‌داسلسله ده چه یوئی کری اوبل‌ته پاتی کیږی پخوانو خلکو ز مونږ دپاره کرلی وی اومونږ به‌ئی‌دورستنیو دپاره کرو ده‌چه داخبره‌و کړه نودپاچا ډیره‌خوښه شوه اوحکم ئې‌وکړ چه‌ده ته‌دې انعام ورکړی شی سپین‌زیری‌چه انعام واخیست نو پاچاته‌ئی وویل وګوره‌چه زما ونې‌ځنګه زرمیوه ونیوله‌پادشاه په دی خبره لاخو شخاله شو اوامرئې وکړچه‌نور انعام هم ورکړی چه‌نور انعام‌ئې ورکړ،ده بیا بادشاه ته‌وویل چه وګوره نورې ونې په کال کښی یوواری میوه نیسی اوز ماونې په یوه ساعت کښی دوه واره میوه ونیوله ،بادشاه ته‌دې خبرې لاخوندور کړ اوحکم ئې‌وکړ چه نورانعام هم‌ورکړی بیاپادشاه له‌ده نه‌روان شواوخپلو ملګروته ئې وویل ځیء چه ځو، که‌ددې سپین زیری سره‌نور هم‌ودرپیزونو دپیسونه به‌مو خلاص کړی !!

دګیدړ قواله

وائې چه‌یوه ورځی دیوه ګیدړپه مخه دګیدړانو ډله‌راغله ده ترینه پوښتنه وکړه چه‌تاسو چیرته اوسیء ؟ هغوی ورته‌وویل چه‌مونږه دسیند په‌غاړه ددرمو او نلو نو په‌یو ځنګل کښی اوسو ده ترې بیاپوښتنه وکړه چه ګذاره موځنګه‌ده ! اوپه‌څه‌شی‌ساعت تیر وی ؟!هغوی ورته وویل څه ګوزاره ده‌خوساعت دی‌تیر پیزی کله چه چیرته‌ښکاره مار پیداشی په‌هغې خپله ګوزاره کوو اوچه‌پیدانه‌شی نودخدای‌هیلی ته‌ناست‌یو، ده‌ورته وویل چه‌تاسوزما عزیزان ئی اوپه تاسومی‌زړه‌خوږ پیزی راځیء زمادانګورو یوباغ دی هلته به مو بوځم، اوپه انګورو به موښه ماړه کړم ګیدړانو چه داخبره وا ورپده دخوشحالی نه‌ئې توپونه کړل ګیدړته ئې‌ووې ډیره ښه‌ده دادې لویه مهربانی ده خودا وو ایه چه‌دا باغ رښتیا ستادی او که تو کی کوې :هسی نه چه‌پردی باغ‌ته موبوځی او په چاباندی موګودی کړی ده‌ورته وویل چه تاسو سره خوزه دروغ نه‌وایم که‌اعتبار مونه کیږی نو دغه‌ده دباغ‌قواله ،، زرئی ورته دجیب نه قواله راوښکله ،اود وی ته ئې وښودله ګیدړانو چه قواله ولیدله نوباورئې راغی اود کیدړ سره روان شول ګیدړ مخکښې واودوی ورپسې‌ووچه دانګورو په‌باغ‌ته‌ئې‌ورننویستل اوورته ئې وویل

چه خوری ء بیدار شی ء دغه مو باغ او دغه تاسو ځانو نه ښه ماړه کړی ء چه بیامو په زړه ارمان پاتی نشی دوی ئی په باغ کښی پر ېښودل

او په خپله ګیدړ دباغ ددیوال سر ته وخوت، او هلته ورته کښېناست، ګیدړا نو ښه زور لګولی دی په انګورو باندې اړم دی، په دې منځ کښې دباغ خاوند راغی، ګوری چه باغ ئې ګیدړانو تالا کړ، نو یو لوی ډانګ ئې را وا خست او په ګیدړانو ئې را باندی کړل یو دلته وهلی بل هلته وهلی، کله دیوه نه غرز کاږی او کله دبل نه، کله یوزغلوی کله بل، ګیدړانو ددیوال په سر ناست ګیدړ ته چغې کړې چه هله دخدای دپاره را کوزشه مونږ خوئې مړه کړو تاخو ویل چه دا باغ زمادی زه ئې قواله لرم اوس دې هغه قواله څه شوه؟ و لی ئې نه راو کاږی چه دوهلو نه خلاص شو؟ ګیدړ ورته قواله له جیب نه را و کښه چه دغه ده قواله خورا سره ده مګر په چائې منیء؟!!

بې له مادې شل نه کړه

وائی چه یو غریب سړی ؤ، پوله پټی، مال جایداد، ملك دوترئی نه لاره خپله خواری غریبی به ئی کوله دومره پیسې به ئی د ورځې ګټلی چه ایله بیله به ئی دسبا او بیګاه کېدلې په دی صورت ئی خپل ځان چلاوه او ګوزاره ئې کوله، یوه، ورځ ئی اراده و کړه چه په خواری مزدوری پسې بل وطن ته لاړشی، په دې نیت له کوره ووت، بل وطن ته لاړ خواری او مزدوری به ئې کوله، څه ګټه به ئې په خپله خېټه خوړله او څه به ئی ساتله څو ورځې چه تېری شوې نو ایله نو لس نیمې روپۍ ئې و ګټلی او کور ته واپس را روان شو چه کورته را ورسېد په ځامنو او ښځه ئې اختر جوړشو چه دادا به مو ډېری پیسې ګټلې وی او له ځان سره به ئې هر څه راوړی وی، یو ساعت نیم ئې دمه سازه کړه او بیائی خپله ګټه وته را وخکله، څه روپۍ چه ئی ګټلی وې: هغه ئی خپلی ښځې ته ور کړې، هغې چه روپۍ و شمېرلې نو لس نیمې وې، نو دې خدای خبر د کومې زمانې نه چېر ته یو غران په پلو پورې تړلی ؤ زرئې پلو پرانست او هغه غران ئې دمېړه د ګټی سره پوځای کړ او مېړه ته ئې وویل: چه واخله بی له مادې شل نه کړه!!

دبی پروایی نتیجه

وائی دووتنو ملګرو یوه کشتی جوړو له او په هغې کښې لوئې وړې تختې لګولې ' یوه وړه تخته وه چه لږه شانته چینجنه وه دې یوه ملګری ئی وو یل : چه دا تخته د کار نه ده په کشتی کښې ددې تختې لګول ښه نه دی ' بل ملګری ئې وویل : چه پروانه کوی دومره بیکاره نه ده او که دا تخته په کښې ونه لګوونو کار به موبند پاتې شی ' غرض دا چه هغه تخته ئې په کښې و لګو له او کشتی ئې جوړه کړه څه ورځې چه تیرې شوې هغه تخته تو له چینجو و خوړ له تردې پورې چه هغه تخته هم له کاره ووتله او نورې تختې هم ورسره چینجنې شوې ' یوه ورځې دا کشتی په دریاب کښې روانه ده چه یوه لویه چپه را غله او هغه تخته ئی سوری کړه به کشتی کښې او به را ننوتې او له ما لونو اوسړو سره ډوبه شوه '' —!!.

هو ښیار حکیم

یوې ښځې ته دا سوداور لو پدلې وه چه په کېده کښې مې ماردی نوورځ په ورځ به ددې سودا دلاسه خوار پدله ' غوښې به ئې توئیدلی او رنګ به ئې زړ پده ' ډېرو دا کترانو او حکیمانو ته لاړ له مګر هیچائې علاج و نه کړی شو ' ځکه چه دا یودماغی او روحی مرض ؤ او کوم ظاهری مرض نه ؤ چه دوی پر ې پوه شوی وای ' غرض دا چه دا ښځه په ډېرو دا کترانو و کړ ځیده مګر په هیچا ئی ښېګړه ونه شوه ' اخر کښې ورته چا وویل چه حکیم مسیح الملك له لاړه شه ددې مرض علاج دمسیح الملك نه په غیر بل څوك نه شی کولی او نه پری بل څوك پوهیزی ' په دغه اثر مسیح الملك ته لاړه او خپل کیفیت ئی ور ته سر تر سره بیان کړ ' ده چه ئی نبض و کوت علم ئی راغی چه ددې ښځی سوداده نورئې هیڅ مرض نشته ' تش وهم دی چه دائې له کاره غورځولې ده اوس داسی کار په کاردی چه ددې داسودا لرې شی ' او په یوصورت سره ئی دا خیال دزړه نه وو ځی دې ته ئی ووې چه ستا په کېده کښې خورشتیا ماردی مګر هیڅ سودامه مکوه زه به ئی درله و کازم او تابه ترینه بې غمه کړم . نودی لاړ بهرته ووت ' او په دسمال کښې ئی یو ماهی پټ

راوړ چه دا پر ې خبره نه شی کوم وخت چه ئی عملیات شروع کول ، نودې ته ئی وویل چه زه به اوس تاته څه دارو در کوم مګر تهٔ به نه ستر ګې غړوې ، او نه به نور کش کړپ کوې نود خوراك څه داروئی ور کړه او ورته ئی وویل چه خو له (کښته) ونیسهٔ او داسی زور کړه لکه سړی چه چالو نه کوی امید دی چه ماربه دې له خولې څخه ولوېږی ، ددې ستر ګې خوپټې وې هیڅ ئی نه لیدل مسیح الملك ورته مخی ته په دسمال کښې ماهی نیولی ؤ ، څه لږ ډېر زورئې و کړ ، نوده ورته ووې چه دغه دی را ولوید، دې چه ورته و کتل یقین ئی راغی چه داهغه ماردی چه زه تر ښه دومره مده ناجوړه وم یوڅو ورځې چه تېرې شولې ، ښځه جګه جوړه شوه رنګ ئې په ځای ، او وجود ئی صحیح او تندرست شو نه مرض ؤ ، او نه بل څه ولې چه دا مرض ورته دسودا نه پېښ شوی وو، سودا چه ووتله نومرض هم خلاص شو .

عجیبه دوست

په یوځایکښې د دوو تنو سره جنګ ؤ په دې کښې دیوه تن یو دوست راغی اودی ئې له لاسونو څخهٔ کلك ونیو، هغه بل سړی ولګید او دی ئی ښه وواهه اود بوسوخوسی ئی تری جوړ کړ په آخر کښې دې سړی خپل اشناته وویل : چه خدای دې خوار که دا څه کوې ؟ زه خودې پرې مړ کړم دلاسونونه دې ورته نیولی یم او هغه مې وهی ته مې دوست ئې کهٔ دښمن ؟ هغه ورته وویل چه زه خودې دوست یم مګر د سعدی صاحب په خولې عمل کوم ، هغه ویلی دی . !

دوست آن باشد که گیرد دست دوست در پریشان حالی و در ماندگی !!

ناکام کاکا

یو سړی په لر کوپسې غره ته تلی وو په غره کښې ئې یولوی ګیدی لرګی و کړل دومره ګیدی ئی وتاړه چه بیائی را پشا کولی نشو بل څوك هم ورسره نه وو . یوساعت نیم خو ګیدی ته حیران اریان ولاړؤ ، چه دا به اوس څنګه په شا کوم ؟

اخر کښې چه څوك پیدا نشوله ځانه سره ئې وویل : چه اوس ناکام دی که دروند دی او که سپك خو په شا کوم به ئې ، شائې ورته ولګوله زور ئې کړل هغه لوی ګیدی ئې په شا راواړاوه؛ او کلې ته را روان شو؛ هر څوك چه به ورله مخې ته را تلل نو حیران

بهٔورته پاتې کېدل چه دې سړی څومره لوی کېدی په یو سر راپه شا کړیدی . اخر کښې یوه سړی ترینه پوښتنه وکړه: چه کاکا ! دا کېدی چادر په شا کړی دی؟ ده ځواب ورکړ : داراته (ناکام کاکا) راپه شا کړیدی !!

دشیطان شکل

دعربو یو مشهور ادیب جاحظ وائی : چه زه په دنیا کښې چا داسی نه یم پیکه کړی لکه چه یوه ورځې یوې ښځی له لاسه ونیو لم چه راځه له تا سره مې کار دی زه هم ورسره روان شوم تلو تلو چه دیوه زرګر دوکان ته ئې وروستلم او هغه ته ئې وویل چه (دده په شان) دومره ئې وویل او دا لاره په خپله مخه. زه اکه پکه اریان دریان ودرېدم چه داخه تو که وه؟ دهغه زرګر نه مې پوښتنه وکړه چه داخنګه قصه وه؟ هغه را وویل چه زه نور خبر نه یم خودې ښځې یوه ورځې ماته ویلی ووچه ماته شیطان شکل (موشاده) جوړ کړه ماورته وویل چه ما شیطان څه لیدلی دی چه تاته ئې شکل جوړ کړم پس لهغه دا لاره اوته ئې راوستلی « چه دده په شان !!» (۱)

دملاچر ګک میلمستیا

یوه ورځې ملا چر ګک حضرت سلیمان علیه السلام ته راغی چه سبا به ته سره له خپل لښکره زما میلمه ئې ؟ هغه ورته وویلې : چه چرته دې را ته میلمستیا کړې ده . ده ورته وویل چه په فلانی جزیره کښې ،

سبا وختی ملا چر ګک لاړ یو ملخ ئې ونیو او په دریاب کښې ئې واچاوه سلیمان علیه السلام چه د خپل لښکر سره راغی ملا چر ګک ورته وویل چه که غوښه لښزوی نو ښور وا خو ډېره ده . که چاته غوښه ونه رسیدله ښور وادې وګوتی !! (۲)

عجیبه سوالګر

یو فقیر دیوه سړی کورته ورغی دروازه ئې وتکوله ، کور والاورته غګ وکړچه چه څوك ئې ؟ ده ورته وویل فقیر! هغه ورته وویل څه وائی؟ ده ورته وویل چه ددروازې پورې لېز راشه ؟ تاسره مې څه کار دی ! هغه را پاڅید چه رشتیا به ئې کوم ضروری

---

(۱) داقصه لهعربی نه ترجمه شوی .

(۲) لهعربی نه ترجمه شوه .

کار وی. چه دروازې له راغی نودی ورته لګیا شوچه زه خودپیر بابا ملنګ یم او ګه څه خیر خیرات دې له لاسه کیږی .نو دخدای په نامه ئې ملنګانو ته ور کړه .کوروالا ورته وویل : چه راځه پاس راوخېژه! چه پاس وخوت نو کور والا ور تـه وویل چـه ملنګ جانه په کور کښی خو هیڅ نشته چه تاته ئی در کړم . ملنګ ورته وو یل چه داخبره خودې په دروازه کښی هم کولی شوه . نوزه دې ولې و کـړو لم . هغه ورته وویل چه تاخـوهم له دروازې نـه غګـ کولی شو نـوزه دې ولې د در وازې پورې په عذاب کړم !!

سم ځواب

دوه تنه ملګری په لاره روان وو اوپه خپل منځ کښی ئې خبری اتری کو لې په دې وخت کښې مخې له یـوه اوښه ورغـله چه و رپسـی یو جـو نـګـی هـم روان ؤ، نو یوه ملګری له دغه بل ملګری نه پوښتنه و کړه : چه ملګر یه ! دا په څه شی پسې څه شی روان دی ؟

ده چه دې مجهولې پو ښتنې ته فـکر و کړ نو سمد ستی ئې همـد غسې مجـهول او دپوښتنې سره سم ځواب و کړ :

وروره ! په داسې پسې داسې روان وی !!

کلك ستر ګی میلـمانـه

وائی چه په یوه سړی باندې دوه میلمانه پېښ شوی وو ډېرې شپې ئې و کـړ ې او لا هاغسې ئې اډولی وو کـورته نه تلل تردې پورې چه کـو ر به عاجز ئې پوزې ته راوست د کور والا یقین راغی چه داسړی خونه ځی نوخپلی ښځې ته ئې وویل چه فلانۍ ! دامیلمانه خونه ځی نوته هم ورته باندې کړه تبۍ ـ! میلمنو چه داخبره ووارېده نو یوه تن په زوره وویل چه ملګر یه اوس نوو اچوه ورته ډډ ې !!

حاضر ځواب سوال ګـر

یو سوال ګـرر اغی او دیـو دولت منـد ا و مالدار سړی نه ئی سوال و کـړ . هغه ورته وویل : چه ځه کـا کـا ! خدای دې در کـړ ی . ده ورته وویل : چه خدای پاك تاته را لېږلی یم !!

په پښتو ټولنه کښې

په پښتو ټولنه کښې دجوزا په میاشت کښې دا وروسته کارونه شوي دي

۱ـ ښاغلي نورمحمدخان تره کي چه یو ه میاشت دمخه د کورسونو دڅانګې دمدیر په حیث مقرر شوی ؤ ، دریاست په انتخاب دآژانس د عمومي مدیریت په کفالت مقرر شو .

۲ـ د کابل په مجله کښې دپښتو دوړو قصود کتاب چاپیدل شروع شوي دي دا کتاب ځانله هم چاپیږي .

۳ـ دپښتو دایرة المعارف داوم ټوک دچاپ کار شروع شوي دي او زر به چاپ شي

٤ـ دپښتو قاموس دد وهم ټوک دتصحیح مجلسونو جریان درلوداود(ش) ردیف تصحیح شوي دي .

دپښتو ټولنی نوی کتابونه

پښتو قاموس

دپښتو قاموس اول ټوك په ښه ښکلی قطع په (٦٦٨) مخو کښی
له چاپ څخه نوی راوتلی دی چه د پښتو ژبی دلغاتو
یوه لویه پانګه لری - دپښتو مینان
دې له پاڼو ځای څخه واخلی .

نوی ژوند

دا کتاب هم په تېر کال کښی دپښتو ټولنی له خوا په ښائسته صورت چاپ شوی دی
دپښتو نستان دپیژندنی په باره کښی غوره اولنډ معلومات لری
ښه انتخابات اوښی ترانې هم پکښی شته
په لږ قیمت له پاڼو ځای څخه
لاس ته درتلای شی .

خوشحال خټك څه وائی؟

دا کتاب چه دخوشحال خټک پر ویناؤ یوه خوږه تبصره ده په تېر کال
کښی له چاپ څخه راوتلی دی حروف ئې غټ او طبع ئی ښایسته
ده ښایی چه له پاڼو ځای څخه ئې واخلیء

دعبدالحمید ښکلی خوندور دیوان

له چاپ څخه راوتلی دی د پښتو ژبې دا قیمتی اثر او دناز کخیالی دفتر
له پاڼو ځای څخه په ارزان قیمت واخلیء

دکانلی عمومی مطبعی کښی چاپ شو